محترمو استازو ،اوس پـه ورو ستی مساله یعنی دا چی د پلار وطنی ملی جبهې دجوړیدو سیاسی اهمیت په څه کی دی بیل کوو .

که جیری هغه څه چی وموویل را ټول کړو دی نتیجې ته رسیږو چی د پلار وطنی ملـی جبهې جوړ یدل پوازې دهغو ټولنیزو سیاسی ساز مالونو په شمیر باندی چی پخوا جوړ شوی او فعال شوی یو ساده زیاتوا لی نه دی که څه همدغه ساز مان په دهغو ډیر سټـــرساز مان وی .

د افغا نستان ددمو کراتیك جمهوریت د پلار و طنی ملی جبهې د جو ړیدو ا صو لـی اهمیت ډیر ستر دی .

له ټولو مخکی باید وویـل شی چی دغه پیښه زموږ پـه هیواد کی د حالاتو د عمو می عادی کیدو زموږ د انقلابـــی دولت د ټینګښت د پراخــــو بر ګنو او په واقعیت کی زموږ دټولو پټمنو او خپلوا کوخلکو دباور او درناوی لوی اوقائع کوونکی شا هد دی .

دوهم دا چی د جبهې جوړ یدل د لوړ انقلاب داصو لو ،د افغا نستان د خلك دموکراتیك ګوند د سیاست او دنیکمرغه

او سمسور افغا نستان د . جوړیدو دلاری‌د هیواد پالونکو او مبارزانو د هلو ځلوپربنسټ‌دافغا نستان د ملی او هیواد ـ پالو نکو قو تونود ټینګیدونکی او وده کوونکی یو والی پیاوړی ځلا او ځر ګندوی دی .

دریم داچی‌د جبهی جوړیدل‌پر دمو کرا تیکو بنسټونو اود انسان د حقو قو او ټو لنیزوآزا دیوته ددرناوی او ټینګښت په بنسټ د افغا نستان د ،ټو لنیزو او ملی قو تو نو د یو مو ټی والی او پرا خــــی‌وروړ و لی په کارکی‌د ټینګ ګام معنی لری .

په دغه ګام سره د هیواددسمسور تیا په لاره کی په زړه پوری ونډی اخیستو ، له پاره د افغا نستان د هر هیواد پا ل امکا نات پراختیامومی اود پلارو طنی ملــــی جبهی دپر ګنیز اودمو کراتیک‌پراخ ساز مان په چوکاټ کی په فعا لیت سره په د غه‌برخه‌اخیستنه پرا خه شی .

څلورم دا چی د جبهــــــی‌جوړیدل په داګه اوروښانه‌ډول ښیی چی د ثور ویاړلی انقلاب‌په دغه پړاو کی کو لی شــــی ستری او پیچلی ټو لنیـــــزی‌مسالی حل کړی او د ټولو ملی او هیواد پالو ځواکو نو د یو والی بیخی نوی بنې جوړی کړی .

موږ د افغا نستان هیواد‌ـ‌پالو نکی ددغو مسالو په حل کو لو سره د خپل ستر هدف‌دتر لاسه کو لو یعنی پــــه افغا نستان کی د ټولنیزعدالت‌تر قی او دسمسور تیا دټولنی دجوړولو په ارتباط دراتلونکووظیفو د سر ته رسولو له‌پاره خپل ځانونه چمتو کوو .

**محترمو استاذو !**

موږ په افغانستان کې دپلار وطني ملي جبهې په جوړولو سره د هیواد د ملي‌اوټولنیز یو والي او یو موټی‌والي په لاره کې ډیر مهم گام پورته کړی دی ، خو دا لومړنی گام او په دې لاره‌کې‌یوستر تاریخي پیل دی ،البته دجبهې ساز ماني تشکل او عملي جوړ ښت ډیر مهم دی خود هغې د فعالیت د گهورتیاتا مین یعني د هیواددټولنیز سیاسي سیستم په متشکله اوضروري برخې باندې دجبهې بدلیدل هم لږ اهمیت نه لري،جبهه باید هغه څه ته چې ضرورت لري یعني د هیواد دنیکمرغی او پر مختگ په غرض دهیواد د وطنپالو ټکو پـــه‌اغیز من یو والي باندې بدله شي، پدغه تر تیب مو ږبایددجبهې په جوړ ولو د هغې د هد فو نو او و ظیفویه ټا کلواو د هغې په جوړ ښت کې ټول سره متو جه او سو چې د جبهې کار واقعي او لازمه محتوی و لري ، جبهه چې د ژوند د غو ښتنې له مخـــې جوړه شوی ده باید د ښه‌والي‌او بهبود په لور ددغه ژوند دبدلون او تحول اصو لی او اغیز منه وسیله وي .

**ژوندی دی وی د افغانستان دملي او هیواد پالو قو تونو یو والي**

**ژوند ی دی وی پلار وطنه‌ملي جبهه**

**موږ بر یا لی کیږو**

# د پلار وطني ملي جبهې په موسسه کنگره کې د ډاکتر صالح محمد زیري د وینا متن

د پلار وطني ملي جبهې د اساسنامې په باب وینا چې د افغانستان د خلك د موکراتیك گوند د مرکزي کمیټې د سیاسي بیرو غړي او منشي او د انقلابي شورا د رئیسه هیات د غړي ډاکتر صالح محمد زیري له خوا د سلامخانې په ماڼۍ کې د پلار وطني ملي جبهې په موسسه کنگره کې واوروول شوه .

د هیواد د ټولنیز و سازمانو محترمو نمایندګانو د افغانستان د دموکراتیك جمهوریت د ملي او وطنپالو قواو نمایندگانو ورونو او خویندو !

گرانو ملگرو او دوستانو!

تقریبا دوې میاشتې مخکې زموږ د گران وطن افغانستان ټولو مترقي خلکو او واقعي وطنپر ستانو د ثور د انقلاب د دریمې کالیزه ستر او دخوښۍ ډك جشن په خوشحالی

سره و نمانځه کوم چــــي دافغا نستان خوار یکښتــــو او نجیبو خلکو ته یې د ځانـــهسره د آزادی زیری راوړ .
همدا ډول څو ورځی پخوازموږ د ګوند شپږم پلینوم په بریا لیتوب سره پای تــــهورسید او د انقلاب د نــورو بریا لیتو بونو د پاره یی لارهپرانیستله دغهډول د دیخبری څر ګندوی دی چی د امپر یالیزم او ارتجاع د ټولــــــو هلو ځلو سره سره چیغواړیزموږ خلك له مترقـــی لاری څخه د واقعا دمو کراتیکی اود عادلانه ټولنی د جوړو لو له لاری څخه منحرف کړی څو دڅور د انقلاب د بریالیتوبو د پاره کار بیاهم ژوندی دی اودوام لری تکامل کــــوی او پراختیا مومی .
څو شیبی مخکی مـــــو دافغا نستان د خلك دمو کراـ تیك ګوند د مرکزی کمیټـــیدعمومی منشی دانقلابی شورا د ر ئیس او د پـــلا ر و طنیملی جبهی د موسسی کنګری د تدارك د عالی کمیسیو ن درئیسں ملګری ببرك کار مل وینا واو ریدله . د ملګـــریببرك کارمل په بیانیه کـــی د هیواد د دا خلی او بین ا لمللیوضعی ژور تحلیل شوی و . د افغانستان دټولو مترقـــیاو وطنپر ستو قواو د خلاندی راتلونکی په خاطر د لازیاتیبریالی مبارزی لپـــاره د دی ټولو قوتو نو د یو والــــیعلمی او تاریخی صرورت او همدارنګه د افغا نستـــــان ددمو کرا تیك جمهوریت پـــه پلار وطنی ملی جبهه کی د دیډول وحد تټاکلی لاری چاری طرح او پیشنهاد شویدی .
د تدارك عالی کمیسیونچید ۱۳۵۹ کال د جـــــدی پر شپږمه نیټه د افغا نستاند دمو کرا تیك جمهوریت د وطنپالو قواو په کنفرا نـــس‌کی انتخاب شو د کنفرانس

د فیصلو سره سم یې خپلې وظیفې تر سره کړې . مثلا د زیاتو هغو ساز مانو لیکلي غوښتن لکیو نه د عالي کمیسیون له خوا ثبت شویدي کوم چې د پلار وطنی ملي جبهې په تاسیس کې د برخې اخستلو او په هغې کې د غړیتوب لپاره یې خپله تیاري ښودلې ده .

موږ باید نن په دې کنګره کې د پلار وطنی ملي جبهې د سازمان ور کولو د تر تیب او همدارنګه په هغې کې د افغا نستان د ټولو هغو وطنپا لونکو قوتونو د سره یو کولو په باب وروستي فیصلې وکړو کوم چې نماینده ګانو یې دلته تشریف راوړي او حاضر دي . عالي کمیسیون همدا ډول د هغې وظیفې سره سم چې د ملي او وطنپالو قواو کنفرا نس سپارلې وه د پلار وطني ملي جبهې د اساسنامې مسوده برابره کړې او د جبهې د مو سسې کنګرې محتر مو نماینده ګانو ته یې وړاندې کړې ده په دې مسوده کې د جبهې د فعالیت طر زونه تشکیلاتي جوړ ښت اوپه هغې کې د غړ یتوب شر طونه ټاکل شوي دي . د تدارک عالي کمیسیو ن له محتر مو نماینده ګانو څخه هیله کوي چې هغه تر بحث لاندې ونیسي او لازمې فیصلې وکړي .

اجازه را کړې چې دپیشنهاد شوي اسا سنامې د مسودې څو اصلي ټکي بیان کړم څرګنده ده چې د افغا نستان د زیار کښانو ستره برخه د کار ګرو او بز ګرو طبقې تشکیلوي چې په هیوادکې د زیات ارزښت لرو نکو محصو لاتو مستقیم تولیدونکي دي . د همدې مسئلې په ارتباط کمیسیون غواړي چې باید پلار وطنی ملي جبهه تر

ټولو د مخه د ټولنی دهمدیدوو طبقو یعنی کارگـــرو او بزگر و دطبقو دنه شلیدونکییووالی پر بنسټ تاسیـــس شی .

په عین حا ل کی د نو روزیار ایستو نکو زیا تشمیر قشرو نه یعنی کو چیـــان ،کسبکا ران ، رو شنفکران ، تاجران ، معلمان ، او نور هـمزموږ په هیواد کی شته چی دوی ټوله په افغا نستان کیږد نوی ټولنی د جوړولو پهګډ کار کی ونډه اخلی چی بایـدپه پلار وطنی ملی جبهی کی د تشکل له لیاری د وطن پـهاعمار کی برخه واخلی .

یو زیات شمیر ټو لنیـــزساز ما نونه اونور هم پـــه هیواد کی تاسیس شو یدیچی د زیار کښانو د بیلا بیلو ډلو د گټو بیانونکی دی دغوساز مانونو زیات شمیـــــر خوار یکښان د افغا نستـــانخلك دمو کرا تیك گونـــد او د افغا نستان د دمو کراتیكجمهوریت دلار ښو ونو دعملی کولو لپاره سره یو کړیدی .

دا ساز مانونه ، صنفـــیاتحادیی د کو پرا تیفـــــو اتحاد یی ، د مبتکـــــــرورو شنفکرا نو اتحادیـــه د تجارت اطاقونه او نور دی . ددی خبری کول لازم دی چید افغانستان د ځوانا نـــــــودمو کراتیك سازمانن او دښځو دمو کرا تیك سازمان زمـــوږد هیواد په دمو کرا تیـــك جنبش کی ستر رول لوبوی.البته په راتلو نکی وخت کی به زموږ د ټولنی د نــــــوروقشرونو اتحادیی هم تاسیس شی .

البته دغه ټول ملـــی اووطنپال قوتو نه یوازی پـــه پلار وطنی ملی جبهه کی پـهیوځای کیدو سره او د افغا—

نستان د خلك د دمو كراتيك‌گوند تر رهبری لاندی كولای شی چی د ثور د انقلاب او دهغه دنوی مرحلی د هدفونو د تطبیق پر لور خپل فعالیتونو هم هد فمند او نور هم متمركز كړی. پلار و طنی ملی‌جبهه او ټول هغه سازمانونه اود افغا نستان ددمو كراتيك‌جمهوريت اتباع چی په جبهه كی یی د خپل گډون آرزو اوهیله اعلام كړیده باید پــــه فدا كاری سره زموږ د هیوادخلك د دی لپاره‌سره يو موټی كړی چی د ثور د انقــلاب ددښمنانو پر ضد مبارزه وكړی خلك په وطنپر ستانه رو حیه‌وروزی څو د افغا نستان ټول اتباع د جبهی د بیلا بیلـــــوسازمانو نو له لاری د دولــت او ټولنی د چارو اداری تــــه‌را جلب شی .

د تدارك عالی كميسيـو ن‌پيشنهاد كوی چی ټوله دغــه تكی د پلار وطنی ملی جبـهی‌د اسا سنامی په سریزه كـی درج شی او مخصوصا یادونه‌وشی چی پلار وطنی ملی‌جبهه د یوه پراخ ټولنیز سیاســی‌ساز مان په څیر د افغانستان د دمو كرا تيك جمهوريت دزيار ايستو نكو د قـــــدرت بنسټ او د كارگرو او بزگروطبقو پر يو والی با ندی ولاړ زموږ د سپیڅلی خـــاوری دټولو او سیمه‌ونكو ملیتو نـــو قومونو قبیلو او بیلا بیلـــــومذ هبو نو د پیر وو خلكو د يووالی څر گندوی ده.

په جبهه كی د خلكو بیــلابیلی طبقی قشرو نـــــه او گرو پونه زموږ د هیواد ټولی‌وطنپا لو نكی قواوی زموږ د گران‌وطن دآرامی او هوسا‌ینی‌سرد د مرستی لپاره را غوند يږی .

کمیسیو ن پیشنهاد کوی‌چی په اساسنامه کی دی خاصتا دا ټکی یاد کړی شی‌چی د پلار وطنی ملی جبهی او همدارنگه د افغانستان د ټولی‌جامعی لار ښوونکی قوت د افغانستان د خلك دموکراتیك‌گوند دی .

همدارنگه کمیسیو ن لازم‌گڼی چی په اساسنامه کی ولیکل شی چی د افغانستان‌ددمو کرا تیك جمهوریت‌د پلار وطنی ملی جبهی د منځته‌راتلو هدف دادی‌چی دخپلواکی او پر مختگ لپاره واقعی‌یووالی ته د رسیدو په خاطر د افغانستان د وطنپالو تکوهمیشنگی ارادی او تمایل ته تحقق ور کړی .

زموږ د گران هیواد افغانستان خلك تل د تاریخ په حساسو لحظو کی گله چی‌د خپلواکی او آزادی مسئله گله چی د خلکو د سر نوشت‌او ژوند مسئله طرح وی نو د استبداد ، ار تجاع ظلم اود باندنی تیری پر ضد د مبارزی لپاره سره یو شوی‌د دښمن پر ضد د مبارزی او جگړی په یوه واحده جبهه کی‌دریدلی دی .

زمونږ د خلکو او دجهانیانوهیر نه دی چی د برتانوی استعمار سره د مبارزی د پاره‌زموږ د هیواد بیلا بیلی طبقی ملیتونه او قومونه په یوه‌صف‌کی ودریدل او پر نگیان یی دری واره د ځپلی ځاوری‌څخه وشړل څو د داخلی او بین المللی بدو شرا یطو‌دشته والی له کبله به دغو اتحادو نو یو موقتی خصلت‌در لود .

څو د ثور انقلاب او د هغه‌نوی پر مختیا یی پړاو د یوه دوام لرونکی یو والی او اتحادهدف ته د عمل جامه ور واغو ستله .

د دې هدف د عملي تطبيق‌لاره په روښانه توگــــه د انقلاب د نوي مرحلې په عمده‌استنادو لکه د ثور د انقــلاب د دو همي کلیزې له املـــه‌د.ا.خ.د. د مرکزي کمیټې په تزسسونو د افغانستــان ددمو کرا تیك جمهوریت پـــه اساسي اصولو د.ا.خ.د.گ دمرکزي کمیټې د پیلنو مو پـه استنـــادو او د.ا.خ.د.گ دمرکزي کمیټې د عمو مـــي منشي او د انقلابي شـورا درئیس ملگری ببرك کار مل په وینا و کې ځای گړی شویدی .

کمیسیون ضرور گڼي چې‌د ( اساسنامې) د مقدمې پـــه آخر کې دې ولیکل شي چې‌زموږ د وطن ژامن او لوڼې ، ځوانان او زاړه ، کار گران اوبزگران ، کسبگـــــاران او گو چیان رو ښنفکـــران اورو حانیون د قبیلو مشـــران او سپین ږیري ، تاجـران اومعلمان دا.امکان تر لاسه کوي چې دوطن د سمسو ر تیا پـه‌خاطر د گډ کار او مبـــارزې لپاره سره یو شي .

د اسا سنامې د مسودې په‌لو مړۍ برخه کې په اوسنۍ مر حله کې د پلار و طني ملي‌جبهې د فعالیت اساسي‌اړخونه تر عنوان لاندې د پلار وطني‌ملي جبهې عمده وظیفـــــې فورمو لبندې شویدې چې‌پدې‌زمینه کې ملگری ببرك کارمل په خپله وینا کې په مشرح‌دول‌بیان وکړ او ویې و یـل چـې جبهه به د خلگو پـــــــراخ‌اولسو له دا.خ.د.گ د عمومي گړ ئلارې پیروي ته جلـــب‌گړي .

په افغا نستان کې به دنوې‌او ځلانده تولنې په جوړولو کې د خلگو د فعال او آگاه گډون‌لپاره د اسلام د مقدس دیـــن د اصولوکلك رعایت او احترام‌او زموږ د خلگو خاصي ملـــي

تاریخی او معنوی عنعنـــی ،دو دونه او رواجونه په نظر کی ونیول شی .

جبهه به همدارنگـــــه دافغا نستان د خلك دموکراتیك گوند او د افغا نستـــــان ددمو کرا تیك جمهو ریـت د انقلابی شورا اودولت سیاست په پرا خه تو گه تبلیغ او بیان کړی .

دا مطلب باید ټولو تــــه‌رو ښانه وی چی د جبهی ټول ډله ایز اویا انفرادی غړی چی د سازمان او یا اتحادیی لـــه لیاری او یا په خپلواکه توگه په هغه کی شامل دی بایـــد یوازی په توضیحی کار بسس‌والی ونه کړی تر ټولو د مخه باید دوی په خپل مخامـــــخ فعالیت او ونډه اخیستلو سره وښیی چی د خلکو دهوسایني‌لپاره په کار او مبارزه کــی اوهمدا ډول په ژوند کــی دگوند او دولت د تصمیمو نو د عملی کولو او د ثـــــور دانقلاب د مطرح شوی وظیفو د اجرا په کارکی د جبهی پــه‌لومړی صف کی ولاړ دی او باید هر غړی په دی لاره کی‌ځان نمونه کړی .

څرگنده ده چی په اوسنــی‌مرحله کی د افغا نستـــــان د خلك دمو کرا تیك گوند او دافغا نستان د دمو کرا تیـــك جمهوری دولت په وړاندی داستره وظیفه پرته ده چــی د خپل انقلاب دښمنان په پشپړډول له مینځه یوسی هغـــــه دښمنان چی د امریکـــــا دامپریا لیزم ، لویی غوښتنو۔ نکی چین او نو رو ار تجا عی‌قوتونو په مرستو سره زموږ په کورنیو چارو کی مداخلـه‌کوی او زموږ خلك نه پریږدی چی سوله ناکه او په خپلـــــه‌خوښه آرام ژوند و کړی.

دهمدی مسئلی سره پـــه‌ارتباط کی په اسا سنامه کی

لیکل شویدی چی جبهه بایدد امپریا لیزم او ارتجاع د تیریو او مداخلو د پوره لهمنځه وړلو لپاره د افغا نستان د ټولو آزادو اوزړه وروخلکود نه ماتیدونکی ارادی او عمل یو والی ته سازمان ورکړی .هغه ارتجاع اوامپر یا لیزم چی غواړی د وسلی په زور اود درواغو او تهمتو په وسیله د انقلابی تکامل دودی د لاری‌خنډ شی او هغه شاته وغورځوی .

موږ ټول یو هیږو چی‌زموږ د خلکو د ژوند دشرایطو د هرڅه زیات ښه والی لپاره‌د ګوند دولت او انقلابی شورا له خوا زیاته پاملرنه کیږی ‌یالبته دا مسئله پوازی د هیواد د ټولو اقتصادی ساحو دچټک انکشاف له‌لاری حاولای شو .

د همدی لپاره باید پلاروطنی ملی جبهه د ملی‌اقتصاد صحی او حفظ الصحوی خدمتواولسی ښوونی اوروزنی لوړو او مسلکی ښوونو علم اوهنر د ودی او تکامل سره‌هر اړخیزه مرسته وکړی .

داخرگنده خبره ده چی‌زموږد هیواد ستر اکثریت مسلمانان دی نو د همدی‌مسئلی په ارتباط د اساسنامی په مسوده کی لیکل شویدی‌چی پلار وطنی ملی‌جبهه به جدی تو گه د اسلام دمقد س‌دین رعایت او درناوی کوی او د افغا نستان د ټولو مسلمانوخلکو لپاره د دینی او مذهبی مراسمو د بیله خنډه اوازادانه اجراء سره پراخ او هر اړخیزه مرسته کوی .

د افغا نستان د خلک‌دمو کرا تیك گوند او د افغا نستان دمو کرا تیك‌جمهو ری دولت دزیاتو داخلی

مشکلاتو د حل سره یو ځای دخارجی سیاست مسئلـو ته هم زیاته پاملرنه کوی .

د افغا نستان د دموکراتیك جمهو ریت خارجی سوله ناکه سیاست ټولو نړیوالو تـــه څرګند دی چی البته پلاروطنی ملی جبهه له دی ستر او عمده کار څخه ګوښه پاتی کیدلای نشی .

د همدی لپاره د تـــدارك عالی کمیسیون پیشنهاد کوی چی په اسا سنامه کـــی دافغا نستان د خلك دموکراتیك ګوند او د افغا نستـــــا ندمو کرا تیك جمهوری دولت له خارجی سیاست څخـــه دغوڅ ملاتړ ضرورت یاد کـړی شی هغه سیاست چی دسولی تامین سوله ناکه ګډه ژونـد د بین المللی کړ کیچونو لهمینځه وړل د هیـــــواد او ګاونډ یانو تر مینځ ډیر لـــهپیچلو او نه حل شوو مسئلو سیاسی حل او د هغـــو ی تر مینځ د دوستی او همکاری پینکوالی په کښی شامل دی ټولو ته ښه ترا څرګنده ده چی زموږ د ستر شما لـــی ګاونډی شوروی اتحاد ســره دوستانه اړیکو عنعنوی شکل اخیستی دی . د ثور ترانقلاب وروسته دا دو ستانه اړیکی دواقعی و روری پهاړیکواوښتی دی زموږ خلك اوس د خپـلورور شوروی اتحاد قهر مانو خلکو او نو رو همکار و سوسیا لیستی هیوادو د وروری هر اخیزه مرستی ډیری ښهاحساسوی .

باید ووایو چی دا مرستی نهیوازی لږ شوی ندی بلکـــی ورځ په ورځ زیاتیږی .

څکه نو جبهه باید په خپل فعالیت کی د شوروی اتحـاد

د قهر مانو خلکو او د نورووسو سیا لیستی هیوادو دخلکو سره د افغا نستان د خلکــود دی عنعنوی دوستی پههرخه زیانه پراختیا کی جدی مرستهوکړی . کمیسیون پیشنهادوی چی په دی باره کی دی هــمد پلار وطنی ملی جبهی بـــه اسا سنامه کی یادونه وشی .

طبیعی خبره ده چی زمــوږجبهه په خپله کړی او حلقه کی نه پاتی کیږی هغه باید پهنورو هیوادو کی د مشابــه ساز مانونو سره اړیکی ولریدا اړیکی زموږ دنوی تاسیــس شوی جبهی لپاره زیـــــاتارزښت لری ځکـــــه د دی ساز مانو لخوا د راغو نـــدوشوو تجربو څخه چی د ډیر وخت راهیسی فعالیت کــویښه ګټه اخیستل کیدای شی.

د جبهی دغه وظیفه ماګر ییبرك کار مل په خپله بیانیه کی ډیره ښه بیان کړیـــدهځکه نو عالی کمیسیــــو ن پیشنهاد کوی چی پهاساسنامهکی دا مطلب درج شی چـــی پلار وطنی ملی جبهــــه دی دنورو هیوادو د مشابه اجتماعی سیاسی ساز مانونو ســره دمتقابلو اړیکو پر بنســــــټ د همکاری ټینګ اړیکی برقرارکړی .

د اسا سنامی د مسودی پهدو همه برخه کی د غړیتــوب شرایط او پلار وطنی ملـــــیجبهی ته د منلو طرز ، لیکل شویدی . پدی برخه کـــی دکمیسیو ن د هغو پیشنهـــادو یادونه شویده چی د جبهـــید غړو د حقوقو او د جبهی د مادی عایداتو په باب بیـــانکوی او جبهه د همدی مادی عاید له لاری خپل فعا لیــــتعملی کوی .

عالی کمیـــیو ن پیشـــنهادویچی په پلار وطنی ملی جبهه کی غړیتوب باید په بشپړه توګهپه خپله خوښه یعنی داوطلبانه

وی او په ډله ایز اوپا انفرادي‌ډول سره کیدلای شی .
وروسته په اساسنامه کی‌هغه ډله ایز غړی یاد شوی دی چی په پلار وطنه ملی‌جبهه کی یی د خپلو قواو یو والی اعلام کړیدی .
هغوی دا دی :
ـ د افغا نستان د خلکدمو کرا تیك گوند .
ـ دافغا نستان صنفی‌اتحادیه .
ـ دافغانستان ددمو کر اتیك جمهوریت د کرنی د کو پراتیفو اتحادیی .
ـ د افغا نستان د ځوانانودمو کرا تیك سازمان .
ـ د افغا نستان دښځودمو کرا تیك سازمان .
ـ د افغا نستان د لیکوالواو شاعرانو اتحادیه .
ـ دافغا نستان د ژورنالستانو اتحادیه .
ـ د افغا نستان د هنرمندانواتحادیه .
ـ د افغا نستان د سولی ،پیو ستون او دوستی سازمان ـ اقتصادی مشورتی شورا .
ـ د افغا نستان د عالمانواو رو حانیونو عالی شورا .
ـ د قبیلو د نماینده گانوجرگه .
په اساسنامه کی یادونه‌شویده چی پلار وطنی ملی جبهه د ټولو هغو سازمانوپرمخ خلاصه ده چی د ملی او دمو کرا تیك انقلاب پیروی‌وکړی د اسا سنامی مواد وه‌نی ملاتړ یی وکړی او عملی‌یی کړی او د افغا نستان د دمو کرا تیك جمهوریت پـه‌پلار وطنه ملی جبهه کی د غړیتوب د داو طلبی مراتب‌د لیکلی غوښتن لیك په‌واسطه د جبهی ملی کمیټی ته وړاندی‌کړی . د جبهی ته ډ له ا یز منل د پلار وطنی ملی جبهی دملی کمیټی تر تصمیم نیولو

وروسته د رای گیری له لاری کیږی .

باید څرگنده کړه شی چی هر ساز مان چی په ډله ایزه توگه د پلار وطنی ملی جبهی ته شاملیږی ټول غړی یی د جبهی په صفوفو کی راځی .

د افغانستان هغه اتبـاع چی په جبهه کی د شاملـو سازمانو غړیتوب ونلـری اوجبهی ته د داخلیدو ارزو لری په انفرادی توگه د جبهـی غړیتوب منل کیدلای شـی ،

عالی کمیسیون پیشنهادوی چی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت هر تبعه چی دجبهی د هدفونو ملاتړ وکړی او د هغی په فعالیت کی دعملی گډون لپاره تیار وی د پـلار وطنی ملی جبهی انفـــرادی غړیتوب تر لاسه کولای شی.

انفرادی داو طلبان د خپـل اوسیدنی د ولایت د جبهی د ملی کمیټی ته د شخصـــی شفاهی یا لیکلی غوښتن لیک پر اساس د جبهی په غړیتوب منل کیږی .

د پلار وطنی ملی جبهـــی غړی حق لری په ټولو هغـــو اقداماتو او لارو چارو کـــی گډون وکړی چی د ثور د ملی او دمو کرا تیك انقـــلاب دانکشاف سره د مرستی لپاره د جبهی لخوا عملی کیـږی دجبهی او د هغی د کمیټو په فعالیت پوری مربوطی مسئلی تر بحث او څیړنی لانـــدی ونیسی او هغه پیشنهادو نه وړاندی کړی چی د جبهـی د فعالیت د ښه والی له کـــارسره مرسته کوی .

د جبهی د هدفو او وظیفود تطبیق سره د مرستی کولو او د پلار وطنی ملی جبهـــی د مرکزی اداری د تمویل سره د مرستی لپاره د ټولـــــواقدامو به برمخ وړلو کی باید پاکلی مادی مدر گونه موجودوی . د عا لی کمیسیـــو ن د

پیشنهاد له مخی دغه مالی مدرك د هغه پیسو له مجموعی څخه اجرا کیږی چی د دلته ایزو او انفرادی غړو او همدارنگه د افغانستان ددموکراتیك جمهوریت داتباعو او د هغوی د بیلا بیلا اتحادیو له خوا د اعانی په توگه ورکول کیږی .

د اساسنامی د مسودی په وروستی برخه یعنی دریمه برخه کی د پلار وطنی ملی جبهی تشکیلاتی جوړښت او رهبری کوو نکی مقامونه تاکل شویدی .

په اساسنامه کی تاکل شویده چی ولایتی سازمانونه د جبهی تشکیلاتی بنسټ جوړوی ځکه چی پوازی د همدی سازمانو او د هغوی غړو له لاری کیدای شی چی دهیواد زیار ایستو نکو په پراخو تودو کی د پلار وطنی ملی جبهی د هدفو اووظیفو د تطبیقو لو لپاره د جبهی عمده او اساسی فعالیتونه پرمخ بوتلل شی پدی سازمانو کی هغه انفرادی او د هغو اجتماعی سازمانو دله ایز غړی شامليدلای شی چی په مربوطه ولایت کی ژوند کوی .

پیشنهاد کیږی چی د پلاروطنی ملی جبهی ډیر لوړ مقام دی د ټولی جبهی سر تاسری کنگره وی چی په هرو پنځو کالو کی یوځل دایر یږی .

د کنگری د تشکیل نیټه د ملی کمیټی د تصمیم له مخی ټاکل کیږی په کنگره کی بایدد جبهی فعالیت په عمومی توگه او د جبهی د ملی کمیټی او اجراییه کمیټی فعالیت په بشپړه توگه تر غور او څیړنی لاندی ونیول شی .

کنگره د راتلو نکی وخت لپاره د جبهی وظیفی او د

فعالیت خواوی ټاکـــــی او دپلار وطنی ملی جبهی پـــــه اساسنامه کی لازم تعدیلونه‌او تغیرات راولی . د کنگری نمایند گان د جبهی رهبـــری‌کوونکی ار گان یعنی د جبهی ملی کمیټه انتخا بوی چی داملی کمیټه د دو کنگرو تــــر مینځ د جبهی فعالیت رهبری‌کوی د نماینده گانو په بـاب معیارو نه او مقـــــــررات اوکنگری ته د نمایند گانـو د لیږلو طرز با ید دجبهی دملی‌کمیټی د وظایفو څخه‌وشمیرل شی .

د ملی کمیټی د دو غونـډوتر مینځ فاصله کی د جبهـی د فعالیت د جاری مسایلـو دحل او لار ښوونی لپاره عالی کمیسیون پیشنهاد کوی چی‌جبهه اجراییه کمیټه ولری‌چی ملی کمیټه یی له خپلو غړوڅخه ټاکی ملی کمیټه په‌همدی ترتیب د جبهی د ملی کمیټی‌رئیس او مرستیالان ټاکـــی چی د دوی د وظیفی له مخی دا جرا ئیه کمیټی غړی هم دی اجرائیه کمیټه باید د جبهـی‌ملی کمیټی ته د خپل فعالیت راپور ور کړی پیشنهــــادکیږی چی د پلار وطنی ملـی جبهی د ولایتی کمیټی پـــــه‌تشکیل پوری مر بوطی چاری دی د االجرائیه کمیټی دوظیفوجز وگرځی او اجرائیه کمیټه دی د جبهی د ولایتی کمیټـوصلاحیت او د فعالیت اړخونه هم وټاکی .

د پلار وطنی ملی جبهی دموسسی کنگری د تدارك عالی کمیسیو ن پیشنهاد و ی چی‌دکنگری ملی کمیټه اجرائیــه کمیټه او د جبهی محلی کمیټی‌باید په خپلو غونډو کـــی د رای‌گیری له لاری تصمیـــــم‌ونیسی .

د اسا سنامی په مسوده کی‌پیشبینی شویده چی پــــــلار وطنی ملی جبهه به نشراتـی‌ارگان هم ولری . پیشنهـــاد

کیږی چی د جبهی ملی کمیټه‌او په ولایتونو کی ولایتـــــی کمیټی دی د حقوقی شخصیت‌صلاحیت ولری .

د کنگری محترمو نمایندگانو!

د هغه سند مسوده چـــی‌تاسو ته پیشنهاد شـــول د پلار وطنی ملی جبهی لپـــاره‌چی موږ هغه نن تاسیســـــوو څرگند اهمیت لری . په‌حقیقت‌کی دا د پلار وطنی ملی جبهی اساسنامه ده . دا سند زموږد جبهی د دمو کرا تیك والی مترقی والی او وطنپا لنــــی‌بیانو نکی او د سولی لپـــاره زموږ د جبهی د مبـــــارزی‌ښکار ندوی دی د جبهی دټولو ډله ایزو او انفرادی غـــــړولخوا د اسا سنامی د مقرر اتو عملی کول د پلار وطنی ملی‌جبهی په فعا لیت کـــــی د بریا لیتوب ضامن دی .

د افغا نستان د دموکراتیك‌جمهوریت د پلار وطنی ملـــی جبهی د اسا سنامی د مسودی‌په وړاندی کولو سره د تدارك عالی کمیسیون اطمینـــــا ن‌څرگند وی چی د کنگـــر ی نمایند گان به هغه تر بحـــث‌لاندی ونیسی او د جبهـــی د اساسی سند په توگه به هغه‌منظور او تصویب کړی .

د سید حسن رضا افشاری وینا

بسم الله الرحمن الرحیم

## الحمدلله الذی جعل المسلمین امة واحدة والصلوة و السلام علی سیدنا محمد الذی امر المومنین ان یشد بعضهم بعضه وعلی آله و صحبه و سلم.

تر ټولو د مخه د دینی اواسلامی تعلیماتو سره سم د پلار وطنی ملی پراخی جبهې د له ویاړه ډکی کنګری اساسی وینا په ټوله معنی اود زړه له کومی تاییدوم او داځکه چی د عالمانو اورو حا نیونو دینی او ملی او اجتماعی وجیبه هما غه دواقعیتو نو او حقایقو درك كول د هغوی تشرح کول او دهغوی ملاتړ دی لکه څنګه چی حذیفه (رض) روایت کړیدی چی رسو الله (ص) فرمایلی دی «من لم یهتم بامر المسلمین فلیس منهم» (الحدیث) هغه څوك چی دمسلمانانو په خیر او صلاح او د هغوی د ژوندانه د لوړتیااو د ټولنی د جوړولو او د مسلمانانو کارونوته پاملرنه نه کوی د حقیقی مسلمانانو له

جملي شخه ندي ، څرنګه چې د پلار وطني ملي پراخي جبهـې خيره زمونږ د ټولني د چارود اهتمام عمده مرکز ګنـــل کيږي او ډيره او محترم ببرك کارمل له ارزښت او محتوا څخه ډکه اساسي وينا د خلکـو د ژوندانه د چارو له اهتمـام څخه ډکه ده نوځکه د رسوالله(ص) د ذکر شوي هدايت په اثر تاييد او د هغي ملاتـــړ زمونږ دهر هيواد پالونکـــي مسلمان وګړي وظيفه او وجيبه ده .

محترمو حاضر ينو ! ګران وطن د غيرتي خلکو اعمـال، ملي عنعنات ديني او اســلامي امانات زمونږ په مخ کي ډيري مهمي وظيفي او درندي وجيبي ږدي او داځکه چـــي رب العا لمين د اعــراف دسورې په ۸۵ مبارکه آيه کـي ارشاد کړيدي ((ولا تفسدوافي الارض بعد اصلا حها ذالکـم خير الکم ان کنتم مومنين)) ذکر شوي قرآني حکم دهيواد دحق او د ساتني د خاوري د تماميت څخه دفاع او ملي حاکميـــت په باب داسي فرمايلي چـــي د خلکو عامه ملکيت ته ډيـر لږ تاوان او لږه بي پروايي او په کار او عمل کي د فساد او ورانکاري ايجاد غير اسلامـــي اعلان کړيدي . نو د پلاروطني ملي پراخي جبهي ډيره جدي او ديني او ملي او اجتماعـــي وظيفه ده چي د هغه په اهتمام او ښه تنظيمو لوکي زيــــار اوباسي او داځکه چي يو ثابت واقعيت دي چي ګوند او دولت د ملي او د مو کرا تيــــــك ماهيت له مخي د دوهـم پړاو له پيل څخه را وروسته داسلام د مبين دين د روحيي په مطابق زمونږ د ټولني د ټولو طبقو او مسلمانانو د ګټو دساتنـــي او ملاتړ په برخه کي هلي ځلي کوي او د اسلام د مقدس دين ساتنه او مصونيت وا دمذهبي مراسمو تر سره کول په ډيره

په توګه تضمينوي چــــي داسلامي شئونو د لوی رياست جوړيدل او د افغانستـــان دعالمانو او روحانيونو د عالي شوری ايجاد د هغه له ستړونموتو څخه بلل کيږی او هم د حج د مراسمو تنظيم دښـــهوالي د جو ماتونو معابـــدو او تکيه خانو د ساتنی او جوړولواو دمقدسو اماکنو دساتنی په برخه کی اساسي پا ملرنـــهراګرځوی او د عالمانـــو او روحانيو د ديني او مذهبي اووطن پالونکو فعاليتو نو څخـــه هر کلی څه چی بلکه له هغوی‌سره د هغوی په پرمخ بيولو کی لازم کو مکونه هم صورت‌نيسي مګر تاسي وينی چـــی زمونږ د دښمنانو ، زموتـــږد هيواد د دښمنانو او زمونږ د انقلاب د دښمنانود دسيسوپه اثر د ډيرو دسکرو کانونه چاودل کيږی‌او ځينو ښارونوته‌د بريښنا د انرژی په ليږدولو کی خنډونه اچو ی. د اوبـــولګولو سيستم له‌کاره غورځوی او ښارونو ته دخوړو د موادوتيلو ، لرګيو او جامو درسيد- لو مخه نيسي او د اسلامـــی‌مقدسو اماکنو او حتـــی د حضرت علی رض د مقبری اوجومات د چاودلو په غرض جنايت کارانه هلی څلی کوی‌او په ښو و نځيو کـــی د ننـــه زمونږ ماشومان مسمــــوم اوهډوکی يی ورته مات کړل،د عالمانو او روحانيونـو او دقرآنکريم د قاريانـــــو او حافظانو تر ورکول او دسپين‌ږيرو ، خوانا نو او وطـــــن پالونکو ښځو وحشيانه وژلــوته اقدام کوی .

پس نو د قرآني حکم په‌اثراو د ديني ، ملي اجتماعـــــی ايجاباتو تر مخی زموتــــږه‌وظيفه او زمونږ وجيبه څه ده؟ او څه بايد وشي ؟ د هغــــه‌ځواب قرانی حکم چــــی د ال عمران د سورې پــه ۲۰۰مبارك ايات کښی ده چــــی

رب العالمین فر مایلــــی دی(یا ایها الذین آمنو اصبـــروا اوصابروا ورابطـو وتقوالله‌لعلکم تفلحون ) په ذکر شوی آیه کی حکـم کـو ی چـی دښمنا یدو په مقا بـل کــــی او دښمن په مخامخ کی ثابت قدم‌او سی اود وطن او خلکـــو حقوقو په ساتنه کی په یـوه‌لاس او دلیزه تو گه اقـــدام وکړی او بریا لیتوب ستاسی‌په بر خه دی او دا یو مسلـم امردی چی د چټکـــی و د ی‌لپاره ثابت قدمی او داوسپنیز او پولادی ټینګ د یـــوال دجوړولو په غرض د گونـد ، دولت ، خلکو ، وسله والــــواو امنیتی قواو پیو ستون او پلار وطنی ملی پراخی جبهـی‌جوړیدل یو ضروری او لابدی امر دی باید د چارو د اهتمام‌لپاره لازم اقدا ما ت و شی چی د ټولنی د جوړولو ښه تفاهم‌لپاره لازم اقدا مات وشی چی پد ی‌اساس د پلار وطنی ملی‌پراخی جبهی جوړیدل د دینی او اسلامی حکمو نو څخـه دی‌او زمونږ د خلکو یوه ملی او تاریخی عنعنه ده د استحکامی‌جرگو جوړول انگر یزانـو او زمونږ تاریخی دښمنانو پــــه‌مقابل کی زمونږ د نیکونـــو چال چلند گټهل کیږی اوزمونږد ټولنی د جوړولو ډیر عاجـل ضرورت هم دی او واقعا چی‌زمونږ گوند او دولت د پدر وطنی ملی پراخی جبهــی په‌جوړولو سره یو ځل بیا ثابته کړه چی گوند او دولت په‌جدی‌تو گه د افغا نستان د خلکـو د گټو سا تندوی دی او د ههٔ‌انقلابی هدف د خلکود مادی او معنوی ژوندانه د سطحــــی‌لوړول او د افغا نستان دهری کورنی د نیکمرغی اســــــاس‌جوړوی ، او د اساسی اصولو سره سم د هیواد د ټولـــــولویو او وړو ملیتونو ، قومونو او قبایلو د حقوقو برابـــری‌د پښتون ، تاجك ، هـــزاره

از بیك ، تر کمن ، بلـــوخ نور ستانی او نور ، په منـځ کی ډیر لږ توپیر قایلیـدل داسلام له روحیی څخه مخالف کار دی . محترم ببرك کارمل په اساسی وینا کی ویلی دی :

((د ثور ملی او دمو کراتیك ژور انقلاب د ټولنیز ربښتینی عدالت د ټینگیدو له پــاره دافغا نستان د زیار ایستوو نکو مسلما نانو د پیــاوړی ارادی ښکار ندوی دی . دینی عالمان ښمن او هیواد پا ل ملا یــا نـدا فغا نستا ن دعــا لما نــو او روحا نیونو د عالی شوراله لاری د نوی او سمسور افغا- نستان په جوړولو او د هغــوهیواد پالومسلما نانو دیووالی په گډ کار کی چی زموـــږ دخلکو غوڅ اکثریت جو ړوی خپله مناسبه برخه اداکوی )).

مونږ د رو حانیونو په کاراو فعالیت کی د محترم ببرك کارمل له دغی پا ملرنی څخه د زړه له کومی مننه کوو .

-د پلار وطنی ملی پراخــی جبهی د بریا لیتوب په هیله .

-د وسله وال پوځ د بری په ارزو .

-او د خلکو دنیکمرغی اوهوسایتی په هیله .

# دد هقانی، کوپراتیفو په نمایندگی

## دخوا جه نفس‌وینا

درنو حاضرینو اومحترمواستازو!

دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دکرنی دکوپراتیفونو دمرکزی‌شورا په نمایندگی دپلار وطنی ملی جبهې دکنگری اساسی وینا چی دافغانستان دخلك دد موکراتیک گوند ددمرکزی کمیټی دعمومی منشی دانقلابی شورا درئیس‌اود افغانستان دد موکراتیك جمهوریت درئیسه هیات دصدر محترم ببرك کارمل په واسطه و لوستل شوه تا پیداو له هغی څخه خپل ژور ملاتړ څرگندوم.

دافغانستان دد موکراتیك‌جمهوریت دکرنی د کوپراتیفونو مرکزی‌شوراد هیواد دزیار ایستونکو دهقانانو دخدمت کولو . د لومړنی مرجع په‌توگه چی‌د افغانستان د خلك د دموکراتیك انقلابی‌گوند دکارگرو دپلی او گوند اود هیواد د ټولو زیار ایستونکو په اراده چی د هیواد دیزگری پراخوپرگنو دبسیج کولو په خاطر د ۱۳۵۹ کال د دلوی په‌شلمه‌نیټه د مؤسسی کنگری په غونډه کی را منځته شوه.اودثور انقلاب دبشپړ تیا یی‌توی

پراو له تمر څخه د ډمحصول اود پلازو طني ملي پرا خـــې جبهې يو غوز ه ر كــــــــــن‌شميرل كيږي خپله وظيـفـه بو ام چي يد غه بر خه كي په‌رښتينو لي سره دپلار و طني د ملي برا خه جبهې د معنو ی‌ستو د بياوړ تيا له پاره ، شريقوهيواد والو ته‌بلنه‌وركړم‌چـــي د هيـواد د خـــد مـت كولو دپاره راووځي او د غـــه‌سپيڅلي هيله ترسره كړ ي دپلازو طني ملي پرا خه جبهه‌چي دېر مختيا او ودی پړ او ته دانقلا بی افغا نستا ن د رسولو اود تيرو ورستو زژ يمو نو له‌بيعدا لتيو اوهرډول‌ناپرا بريو څخه دد غی انقلابی خاور ی دشر يفو خلكو ، د زغو رلو او د ټولو له پـاره د امنيت او سو له ايز ژ و نداله‌تا مين څخه پر ته بله هيلـه نه لري، يووكړ نيز .انقلا بی‌اوله وياړه ډك هدف دی.

دهيواد د كرني كو براتيفوته‌چي زموږ دزيار ايستو نكـو غير تمنو بز گرانو ديو مو بی‌كيدو ځای دی په‌پوره غـوځ ايمان سره دثور انقلاب او په‌تيره بياد هغه دنوی بشپړ ـ تيايی پړاو د ما تی نه خو ړونكی مور چل په‌پياوړ تيا كي سره منظم كيږ ی اود انقـلاب‌دساتو نكو د لو په حوزه لو سره خپل انقلا بی او وطـن‌پالو نكی نقش په داســـــــی شرايطو كی چی د امريكا ښكيلاكګرو اوڅړی‌خوږو نكی امپريا ليز مدخپلو جنايت كارو ا نډيوالانو سره‌دافغا نستان د انقـــلا ب ا و خلكو په ضد نا اعلام شو ی‌جګړه پيل كړی ده په‌زړ ور تيا او خا صی سر ښيښند نی سره‌ترسره كوی . دافغا نستا ن دد مو كرا تيك جمهوړ يت ذكر نی دكوپرا تيفو نو مركزی شو را دپلار وطنی ملی پراخه‌جبهی له‌جوړ يدو ورو سته‌چی د هيواد د ټولو ز يار ايستـونكو خواكونو او دلو دپخوانيو

او تاریخی هیلو حا صل گیهل کیږی د هیواد را تلو نکـــی روښانه نه و یئی اود ز یا تـوبریا لیتوبونو اتکل کوی.

محترم ببرك کار مل د ملی‌او وطن پالو قو تونو په جر گه کی وو یل :«پلارو طنه ملی جبهه د ټولنیزو سیا ســی ساز ما نو نو یو پرا خه ! ویرگنیز سیستم دی چی دملا تیر یی د کار گرانو اوبزگرانو یووا لی دی او ټو لی طبقـی قشرو نه او ټولوو طن پالونکوټولنیزو ملی او مـذ هبـی خـوا کـونو ملی او دمو کـراتیکی ځ لی زموږ دگران هیواد دهمکار ی په خا طر یو مو ټی کوی.

د هیواد شر یف بز گرا نله‌کار گرانو سره خپل‌یووالی ور ځ تر ور ځی پیاوړ ی‌کوی‌اود ټو لنی دټولو مخکښـــــو قو تو نو دجوړ یدو په امر ددغه‌یووالی په گرد چاپیر پر- له‌پسی هلی ځلی کوی.

محترم ببرك کار مل په‌خپله‌وینا کی وو یل: مو ږ به‌ټو ل لاز م تدبیرو نه و نیسو ترڅوچی دافغا نستا ن بز گرو ته ډیره مهمه مسا له یعنـــــی د ځمکــی او او بو مسا لـــه‌د جدی او اغیز منو او سنجو لشو یو بد لو نو نو پر بنسټ چی دفیو ډالیز م سود خوړ لواود ملیونونو بز گـرو پـــه نسبت تاریخی بی عدالتی چی‌داسلام دمقـدس دیـن لـــه اصولو سره سم له منځه‌وړی‌په عاقلا نه ،عاد لا نه او دمو- کراتیکه بڼه حل شی »

موږ دکار دشرایطو د ښه‌وا لی اود هیواد دبز گرانود ژوندانه دسمون په بـر خـه کـی د محترم ببرك کا ر مل د وینا څخه د زړه له کومی هرکلی کوو.

پلارو طنه ملی پرا خه جبهه‌چی په‌وا حد او انقلا بـــی

افغانستان کې داوسیدونکو ملیتونو استازي د هیواد د ملي اصنافو او زیارایستونکو قشرونو نمایندګان به برخې نیسي دا انقلابي افغانستان دزیاتې سمسورتیا او چټکې ودې په برخه کې د ټولنې دملي او دموکراتیکو قوتونو دماتې نه خوړونکي یووالي ښکارندوی دی . همدغه وجه ده چې د هیواد د بزګرانو په نماینده ګی د پلار وطني ملي پراخې جبهې لومړنۍ کنګره دافغانستان دخلک دد مو-کراتیک ګوند تر مشرتابه لاندې دخپلو ټولو دودا تي د دیوال دلومړي خښتې پــــه تو ګه بولو او په غوره امید سره کولی شو چې خپــــل راتلونکې روښانه اټکــــل کړو.

بریالی دې وي دافغانستان دخلک دد مو کراتیک ګوند دکارګري طبقې اود هیواد ټولو زیار ایستونکو دګوند ترمشر تابه لانــدې د پــلاروطني پراخې ملي جبهـــې لومړنۍ کنګره.

# د عبدالرحیم هاتف وینا

**گرانو حاضرینو د پراخې پلار وطني ملي جبهې د موسسې کنګرې محترمو ګډون کوونکو !**

**تر هر څه دمخه غواړم د پلار وطني ملي جبهې د جوړېدو له امله چې د ګران هیواد د ټولو خلکو او اولسونو ملي هیله وه ناسې او ټولو هیواد والو ته د زړه له کومې مبارکي ووایم.**

موږ تل جرګې کړې او بیا به یې هم کوو څکه دا زموږ د ټولنې نه بیلېدونکې دود دی اما د جرګې اهمیت د هغو مسایلو په تناسب وي چې جرګه پر رابلل کیږي همدغه وجه ده چې زمونږ نیکه ګانو به د مهمو ملي مسایلو د حل دپاره لویې جرګې دایرولې .

زموږ وياړلی تاریخ شاهد دی چې هر مترقي نوښت د جرګې او جبهې د جوړولو ضرورت منځ ته راوړی په تیره بیا کله چې هیواد د استعمار ی تیری سره د مور چل مبارزی ته ورداننګلی د جرګې او جبهې مبرم احتیاج لا څان ښکاره کړیدی. د مثال په توګه د مشروطه غوښتنې مرحلې یا د ملي شورې داو ومې دورې د جبهې او مرکې ذکر کولای شو. څکه چې جرګې د اولس د اصیلو غوښتنو څخه نشات کوي نویې د خلکو دسر

نوشت پهٔ‌پاکلوکی اغیزمن رول‌هم لوبولی دی. وگوری دپرنګی دتیری اواستعمار پرضد زموږ دمیړنیو پلرو پهٔآزادی بښونکو مبارزوکی، جرګو اومرکوکوم مثبت رول لوبولی .

اودهغو په مرسته څــه دوپاره ډك بريساليتوبو نــه تر لاسه شوی دی .

دا چی اوس بیا موږ په دی‌پړاوکی دپراخی ملی جبهی د جوړولو پهٔغرض‌دلته راغونډيږودازموږ دهغه وياړلی تاريخــی ميراث تسلسل او دوام دی.

دثور دانقلاب په نتيجه کــی‌چه زموږ دولسی‌او هيواد پــه سر نوشت کی دلومړی خــل‌دپاره کوم بنيادی بدلون راغلی دی ددی دپاره چــی ددی او بنتون له مثبتو اړخونو څخــه پنه ګټه واخستلای شو دملی‌جبهی جوړيدل نورهم ملی او تاريخی اهميت موندلی دی.

دثور انقلاب اودهغه دنو ی‌بشپړتيايی پړاو سره دټولنيز بيرته پاتی والی دليری‌کولو اودنوی هوسا ژوندانه دتامين ، داستبداد، ظلم او استعمار دله‌منځه وړلو لازم شرايط منځ ته راغلل څکه نو زموږ دهرمليت‌اوقوم زيار ايستونکی ته پــه حقــه دا هيله پيدا شوه چــی‌ګوندی نوربه دوی اوددوی‌اولاد ته دانسان په توګه ژوند وربه‌برخه شی بيځايه نهٔده چی ټولو زيار کښنو اوپتمنو خلکو دثورانقلاب دزړه له‌کومی استقبا ل دهغه بشپړ ملاتړ يی وکړ.

**دافغانستا ن ددموکراتيك‌جمهوريت اساسی اصول چی**

**په واسنی مرحله کې دهیوا داساسی قانون‌گنل‌کیدای شی د هیواد د ټولو اوسیدو نکوملیتونو ، قومونو اوقبایلو که څه لوی دی کـه واړه لکـه :پښتانه، تاجیك، هزاره ازبیـك ترکمن ، بلوڅ، نورستانی اونور بیله هیڅ تبعیض او توپیر نه‌دکامل اوبرابر حقوق‌تضمین‌کړی اوهغوته‌یی قانونی‌حیثیت ورکړی دی .**

دغه راز زموږ دموکراتیك‌دولت دټولنی دچټکی اقتصادی ودی دخلکو دهوسایني دنو ی‌او وړاندی تللی افغانستا ن د جوړولواو د ټولـو ملیتو نو ،اقوامو او قبایلـو د کـلتـور دودی او غوړیدو دپاره په پولړمهمو اقداماتو لاس پوری کړی دی چی دښو نتیجـو اټکل یی‌همدا اوس لاممکن دی.

پر دغو ټولو سر بیره یـوشمیر مرتجع او دانقـلاب ضد کسان چی غیر عادلانه میراثی‌او نسبی امتیازات او وړیاګټی یی دلاسه وتلـی دی . دافغـانستان دتاریخی دښمنانو یعنی استعمار او د هغه د روزلـــوګوډاګیا نو تر څنګ ودرید ل نه یوازی دانقلاب پرضد بلکه‌د وطن او وطنوا لـو پر ضـد ودریدل او خائینانه او خصمانه‌اقدامات یی پیل کړه ، دغـه سودا سوی ملی خائنان چی‌دامریکی ، چین او پاکستان په وسلو بار دغلو په دود هیوا د ته‌را ننوزی ، لوټ او تا لاکوی ژوبله او مرګ کوی اورونـه‌لګوی او په دی تو ګه هڅه‌کوی چی دنو ی ، څپلواك او ســرلوړ ی افغا نستا ن د جوړیدو هڅه ونیسی .

دوی نـه غواړی پـه د ی‌حقیقت سر خـلاص کـړ ی یا

اصلا نــه پوهیږی چــی اوس افغان اولس وینبس دی دوست او دښمن ښه پیږنــی ، اوس زموږ عمو م خلك په دی پوره پوه دی چی کله چــی اشرار دخپلو بادارانو په فرمان مکتب ورانوی معنی یی داده چی دوی داسی افغانستان لیدل غواړی چی په هغه کی دعلم اومعارف رڼا نه وی او د نا پو هی پــه تورتم کی لاډوب وی، داچــی دوی روغتونونه ورانو ی غیر له دی بله څه معنی درلودا یسی چی پر موږ یی روغتیا ، دارو در مل نه لور یږی اوکله چی داسلام په نامه ماجتــونــه سوځی ، لاری وهی خــوانا ن نیمه څوان کــوی زاړه سپین سری اوبیګناه کوچنیا ن وژنی زموږ خوندی مندی او ترلــی بوری او سر تــور ی کــو ی او په لروساندویی کښینو ی دا داســلا م له نامه څخه ناروااستفاده اومطلقه اسلام دښمنی یا دهغــه استعمار ی اســلام غوښتنی یوبل مثال دی چی په بیړ و پی د مسلمانانو په وینومنګولی سری کړی ، اسلام یی ټوك ټوك کړی او دغه اوس لاهم زموږ پر فلسطینی عر بو مسلمانو وروڼو دیهود تیر ی او بالا دستی پلوی کوی.

سره له دی چی په ګرا ن هیواد کی د ارتجا ع د مار سر دخلکو په مرسته کوټل سوی او بادارانو مخ یــی تورسو ی دی خوددی زخمی مارلکی اوس لاهــم د ورستیو سلګیو پــــه حا ل کی خوځیږی نو داشراروپه شکل پــه تخریبی فعالیتو لاس وهی ، خو له بله پلــــوه استعمار ، هیواد استقلال او د مځکی تمامیت تــه ستر ګــــی سری کړی او له لاس وهنــــی او مداخلی څخه نه ایساریږی.

له همدې کبله موږ د ټولوملیتو نو، قومونو او قبیلو او ټولنیزو سازمانونو استازې په‌دې ستره ملي جرګه کې سره راغونډ شوي یو اوغواړو چې‌دخپل ملي دموکراتیك انقلا ب د دفاع دهیواد د استقلال دساتنې او نوی سر لوړ ی او هوسا ټولنې دجوړولو په باب‌لازم تصمیمونه ونیسو او د هغو پریکړو په عملي کولو کې‌فعا له برخه واخلو ددغو مرامي پکو په نظر کې نیولو سره به‌دا مجرده ادعا نه بلکه یو انکار ناپذیره حقیقت وی که ووایوچې دپلار وطنی پراخې ملي جبهې جوړیدل دخلکو اساسي‌هیله او دتاریخ غوښتنه ده .

پرا خه پلار وطنه ملي جبهه‌به دافغانستا ن په دموکرا ـ تیك جمهور یت کې د ژیا رایستو نکې (چې داولس لوی اکثریت دی د حاکمیت بنسټ‌تشکیلو ی او وظیفه لری چې دهیواد پراخې پرګنې د دولت‌او ټولنې د دودنو د ادا رې دپاره راغونډ او د ټولوملیتو نو او قومونو د پاره داسې لازم شرایط برابر کړي‌تر څو هغوی هر یو د خپل اقتصادی غوره ملي فرهنګي‌ژبې او دودو نو په وده کې لازمه برخه واخستلای شی .

**دا جرګه د ټولو هیوادو په‌مقیاس تر هر څه دمخه زمونږ دشریفه خلکو د یووالی اواتحاد مرکز او زمونږ دویاړلي هیواد د لویو او مهمو مسئلود حل دپاره ستره مرجع ده څرنګه چې ببرك کارمل ویلی‌دی : دټولو ملي ربتینوهیواد پالو قوتونو او دهغو دمربوطوساز مانو نو د اتحاد غوره ساز مانی شکل همدغه پلا روطنه پراخه ملي‌جبهه ده.**

مونږ د ټول هیـواد دبیلابیلو قومونو ، ملیتونو، قبیلو او ټولنیزو سازمانونو استازی‌نـه یوازی دلته پـه دی ستره جرګه کی لوړه کوو چی دثورانقـلا ب دښمنو د ساتلــو دافغا نستا ن ددښمنانو دبیخی‌له منځه وړلو او دیو ی نوی مترقی ټولنی د جوړولو پــه‌مبارزه کــی ستره ونده واخلو بلکه ددی مقدسی وظیفی دترسره کولو دپاره به په کلــو بانډو، دښتو او غرو او دهیوادپــه ګوټ ګوټ کــی خپــل تاریخــی وجــائب ســر تــه‌ورسوو .

**بریالی دی وی دپلار و طنی‌پراخه ملی جبهه .**

**مړه دی وی دافغا نستان د خلکو دښمنان .**

# دافغانستان د دموکراتیک جمهوریت د هنرمندانو داتحادیې د مرکزی شورا

**دغړی عبدالرشید جلیاوینا:**

درئیسه محترم هیات ، درنو حاضرینو ، خویندو او ورونو په‌اجازه !

ویاړم چې پدغه دعظمت څخه ډکه کنګره کې چې‌دشک او تردید څخه پرته زموږ دهیواد په لهویاړه ډک تاریخ کې یوه ستره پیښه ده ، د افغانستان دد موکراتیک جمهوریت د هنرمندانوداتحادیې په نماینده‌گی خبرې کوم.

دپلاروطنی ملی جبهې‌مؤسسه کنګره چې د ثور انقلاب او په تیره بیا د هغه‌په‌نوی بشپړ تیا یې پړاو دلمر دوړانګو پهړڼا کې په یوه‌وا قعا آزاده ،دموکراتیکه اودزړه له‌کومې فضا کې‌جوړه‌شوی ده . ددغه انکار نه منونکې حقیقت ښکارندوی‌ده‌چې دانقلاب د مخکښوړوندوښووروا لی داسی مرحلې ته‌رسیدلی دی چې ټول ملی او دموکراتیک ځواکونه دپلاروطنی دواحدی جبهې تربیرغ لاندی یوموټی کیږي.

درنوډوستانو! دافغانستان دد موکراتیک

جمهوریت د هنرمندانو د اتحادیې منځته راتلل چې زموږ د خلکو د ښکلو فرهنګونو او هنرونو د پیوستون اسانتیاوې به خپل ځان کې ، منځکل کړي د هنر او هنري استعدادونو وده او تکامل کې یو ستر اقدام بلل کیږي. زموږ د اتحادیې اعتبار او نفوذ ورځ تر ورځې زیاتیږي او موږ د مساعدې فضا پرا خو کارونو څخه په استفادې سره د خپلې تولنې هنر ته د تکامل ورکړې په لار کې عمل کړی دی .

د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند د مرکزي کمیټې عمومي منشي او د انقلابي شورا د رئیسه هیأت صدر محترم ببرک کارمل په خپله وینا کې ویلي دي :

« موږ خپلو وطن پالو نکورو نښانفکرانو ته داد ورکوو چې په نوي افغانستان کې چې همدا اوس د هغه په جوړولو لو مو پیل کړی دی د دستور تیا او د معنوي ګمر څخه د فرهنګي فعالیت زموږ د ګران هیواد د ترقۍ په خاطر تسر سره شي . »

موږ د هیواد هنرمندان د دزړه له کومې د محترم ببرک کارمل دوینا هرکلی کوو .

دافغانستان د دموکراتیک جمهوریت د هنرمندانو اتحادیې د پلارو طني د ملي پراخې جبهې په پیاوړ و لیکو کې دیو سمسور افغانستان د آزاد ، خپلوا ک ، سر لوړ ی او انقلابي افغانستان ، د غوړیدو په لاره کې د نورو ملي او وطن پالو قوتونو سره اوږه په اوږه د پلارو طني د ملي جبهې تر بیرغ لا ندې خپل وطن پالونکي کار او پیکار ته

دوام ورکړي او په انقلابي هنر سره د هیواد د خلکو په بسیج کولو او متشکل کولو کې پرله پسې هلې ځلې وکړي. موږ د افغانستان وطنپالو نکي هنرمندانو ته په د غه تاریخي کنګره کې په غوږ ځوړول او صراحت سره اعلاموو چې د هیواد پد غه او سمنسي تاریخ جوړونکي حساسه شیبه کې په زړه ور توب سره د انقلاب په سنګر کې ودرېږي و او د خلکو، هیواد او انقلاب د دښمنانو ټولو له لیو نتو پ څخه ډ کې هلې ځلې شننه وواو په غوښه تو ګه د انقلاب د انساني ګټو څخه سا تنه او ملا تړ کوو.

پر بېړدی چې زموږ د انقلابي هیواد اصیل هنر د انقلاب اود هغه دژ یار ایستو نکي انسان په خدمت کې وي.

برېا لی دې وي د پلارو طنی د ملي جبهې مو سسه کنګره

ژو ندی دې وي د افغانستان آزاد او مېړ نی خلک.

# دوکیل هدایت‌الله وینا

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**دلوی خدای په نامه**

**زه افتخار لرم چی په دی‌ستره ادرنه تاریخی او ملی جرگه کی د ننگرهاردولایت‌دپښتنو خلکو او شریفو او لسو نوپه نمایندگی‌غږیږم‌تر هر څه دمخه باید وو ایم چی دافغانستان خلك دکلونوکلونو نه راپدی خوا پدی‌ارمان وو چی دخپل وطن مسایل‌اومشکلات په جمع ، په گډه ، په‌سلا مشوره او په جرگه‌حل‌کړی.**

د قومونو او اولسو نمایندگان او استازی ی ددولت اوحکومت له مشرانو سره‌کښینی او په هره لویه ،وړه مساله فکر او غور او بحث اومذاکره وکړ ی بیاکومه خبره چی دټولو خوښه وی په هغه‌باندی دعا د خیر او آمین وشی .زموږ اولسی ژوند هم دغسی دی موږ هره خبره جرگی ته‌وړاندی‌کوو.جرگه‌چی څه فیصله وکړ ی‌موږ هغه منو .څوك چی دجرگی‌له‌فیصلی نه‌سر غړوی هغــــه گویا دخپل قام او اولســس نه مــخ اړوی . قام نه‌په سپکه سترگه گوری نو قام هغــه‌سړی نه‌سړی گڼی او لاژمه اولسی جزاور کوی.

جرگه زموږ دننورځی دود دستور نه دی .دا موږ نه زموږ له نیکونو پلرونوڅخه‌پاته دی.

دکور او کلي دوړو معا ملواودورو نو عز يزانوتر منځ د عاد ی او معمو لي خپگانونواومرور تياوو نه نيو لی تر غتهو غتهو خبرو دمر گ او ژوبلي‌تر معا ملو اود شرم او پيغور تر جنايتونو پوری جر گی ته‌وړاندی کيږی.

**دجرګو له خوارو غي جوړی کيږی تيـږی ايښودل کيږ ی ناغي ايښودل کيږی او په هر رنګه چی‌و ی خير خواه قام- پرور او خدا يی جر ګه مارانسپين ږير ی‌سره کښيني او ډيرو سختو او ګرانو مسالوته داسی لار ی وباسـی چی دواړوخو اوو ته يکی خيروی.او که چاته تلا هرا تاوان هم وی چی سپين ږيرو کو مـــهفيصله کړی وی هغه منی .**

څو مره چی زه معلو ما تـلرم دافغا نستا ن نـــو ر ورونه ، قو مو نه دنوروولا ياتواو سيدو نکی هم جر گی لری او جرگو ته په در نـــه‌نظر گور ی . همد غه سبب دی چی داجر گه چی نن‌جوړه‌شوی ده دالو يه او در نـــه جر گه ما ته ډير اهميت لری‌او زه ډير افتخار کوم چـــی دلته ستاسو په خد مت کی دخپلی سيمی اود خپل و طـــن دخلکو دمشرانو او سپين‌ږيرودملا يانو اوعالمانو ،دخوانانو

او وطن پر ستا نو د خوا رانوغريبانو ،دزحمت کشا نو ، دهقانانو ، دکسبگر و او ، کار يگر و له خوا دهغـــوی سلامونه او احترا مو نه د هغوی‌دزړه‌در دونه‌او غمونه‌د هغوی هيلی اوآرزو گانی تا سی دجر گی درنو غړو اود حز ب او دو لت دلوړو مقاماتو لاربنو و نکو ته رسوم .

**شکر الحمد الله موږ ا وتاسی ټول مسلمانان يوخدای پا ك په قرآن عظيم الشا نكی‌په‌جرگو او مشورو امر کوی.**

**زه خو ملا نه خو دملا صاحبانو نه می دا خبره ډیره اوریدلی ده چی خدای پاك خپل نیـــازبین رسول حضرت محمد ـ مصطفی صلی الله علیه و سلم ته په قرآ ن پاك کی امر کړی دی چی په ټولو کارو نو کی مشوره وکړی.**

مونږ په پښتو کی هم جرگه لرو مونږ په افغانیت کی هـم جرگه لرو او زموږ دین هم دجرگی امر کوی.

حکومت چی دجرگو مرکز شو نو گویا زموږ دخلکو زمونږ دخواراتو ،غریبا نو حکومت شو. پخوا مو ږعلاقدار صاحب ته نه شوو ورتلای چی په مخ دی څو ستر گی دی ټی دادی زه د دولت د مشـــــرسره ناست یم زما نو رعزیزان اود وطن دټولوو لسمو نو نما یندگا ن ورسره ناست دی او مونږ ته داحق او دا مقام حاصل دی چی ووایو داخبره سمه ده دا ناسمه ده داکار گټور دی دازیانمن دی .دا جر گه چی ان مونږ او تاسی پکی ناست یو او ددی زما نی په اصطـلاح ورته پلار وطنه ملی جبهه وایو مونږ او تاسی ددی جبهی د جوړو او دپاره را غونډ شوی یو اوددی جبهی دجوړو او د ترتیبا تو ستره جر گه ده چی ور ته کنگره وایی دا په ډاډ حوډه مونږ دگلی او و لس د گلیوا لی او او لسی جرگو د دود سره مطابق یوه لو یه شا نداره، دعز ت او درناوی ور ، دقدر او احترا م و ړ ستره جر گه ده یعنی هـــو ږ په گلی کی جر گه لرو اودکوراو گلی خبره هلته کوو ، په او لس او علا قه کی جر گه لرو دولایت په سو یه جرگه لرو نوداد هیواد په سو یه دټـول افغا نستا ن دټو لوقو مونو او

او لسو نو په سو یه زمو ږلو یه ستره او له افتخا ر او عزت څخه د ک جرگه ده. دلته به هغه خبری کوو چی د افغا نستا ن پوری تعلق و لری ډیر خو شحا له یو چی مو ږ همدا او س د محترم مشر او د وطن ستر غمخور کار مل صا حب و ینا واو رید له موږ داحس کړه چی یادی اسا سی ویناز موږ د هیواد په مهمـــو اساسی مسایلو رڼاوا چو له شوه . زه په ډیره مینه او ډیر اخلاص د دی وینا ملا تړ کوم.

څکه چی یادی و ینا کی هغه خبری را غلی دی چی هغـــه زموږ د زړه خبری دی هغه زموږ د و طن د پر مختگ او آبادی خبری دی هغه زموږ د خلکو د خیر او ښیگڼی د باره دی.

داد مینی، محبت ورورولی، عـز یـز و لـــی ، ښـــی پېر زوینی ، اتحاد او اتفا ق خبری دی . نو څکه یی زه په ډیره مینه او محبت تاییدو م او د هغی د عملی کولو په لاره کی د خپلو خلکو په نما یندگی د ورورو لی او عزیز و لی لاس وړاندی کوم .

و السلا م

۱

# دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دلیکوالو داتحادی

## دغږی واصف باختری وینا

درئیسه محترم هیات او دپلارو طنی دملی پرا خی جبهی دمؤسسی کنګر ی دګډون کوونکو په اجازه !

زما له پاره دویاړ خبره ده چی په دغه تاریخی او تار یخ جوړ وو نکی غونډه کی دخبرو کولوو خت پیدا کوم دخلا کوړ قدر ت دپیاوړ تیا مسا له او دهیواد په سیاسی ، اقتصادی، اوټو لنیز ژو ند کی په پراخه تو ګه د خلکو ونډه اخیستل دانقلاب دنوی تکا ملی پړ اوله پیل څخه تر او سه پوری په پرله پسی او په ټینګـــارسره دګو ند او دو لت درهبری په ویناوو کی منعکسه شو ی ده. په یاد راو لو دافغانستان دخلک دموکراتیک ګــو نــد دمر کزی کمیټی دعمو مـــی منشی ،اود افغا نستا ن دد مو کراتیک جمهور یت دانقلا بی شو را درئیسه هیا ت دصدر محتر م ببرک کار مل هغه وینا چی دملی اووطن پالو نکـــوقوتونو په کنفرا نس کی یی ویلی دی:

« زموږ انقــلا ب د خلکو په نا مه اود خلکو په نا مه اود هغوی دګټو په خا طراودهری زیار کښی او تر قی غوښتو-

نکی کور نی دژ وندا نه د بنه‌وا لی او زمو ږ دتو لـــو زیار ایستو نکو خلکـــــــو دهوساینی په‌خاطر تر ســره شوی دی. دغه نجیبا نه‌انسانی‌سترو هد فو نو ته رسید نه دپراخو قشرو نو او ز یار کبنبو پرگنو دفعال اوآگا هانه گډو ن مستلز مه ده .همدغه‌دتو لنی زیار کښبی پرگنی‌دی چی په خپله‌انرژ ی او کارسرمزمو ږ دانقلا بی دو لت له‌خوا داتکل شو یو بدلو نو نو تحقق ممکن او میسرکوی .»

دغه ویناو ی دد غه حقیقت‌ښکا رندوی د ی چی د ملـی او دمو کرا تیك انقــــلا پ‌د تکا مل او لمر ور کولو او په ملی‌ژو ندا نه دږ یرو‌پیچلومستو نزو حل کو ل پدا سی یوه مر حله کـــی په تو لنیزواصلا حا تو کی دخلکو آگاهانه اود زړه له کو می و نـــــه‌اخیستنه یو داسی امر دی‌چی دږه‌ور شخه نه شی کید ی .دپلارو طنی ملی پرا خه جبهی په‌باره کی خبری کول یـــــوصیاسی او انتزا عی مجــــرد شعار ند ی بلکه دد غه ږ و ل‌یوی جبهی دجوړ ید لو لزوم زموږ دتو لنی دعینی‌اومشخصووا قعیتو نو اودد غـــــــو وا قعیتو نو له تحلیل او په‌خوا‌ږ خیزه تو گه د هغو له‌خیړ‌لو شخه را منځته شوی ده . په‌او سنی حالت کی دخواکونو پرا خی گتی له تو لنی شخـــه‌غوا‌ږ ی چی د امپریا لیز م ، هژ مو نیسم او ارتجا ع پـــه‌ضد په مبارزه کی آگاها نه او په فعا له‌تو گه و نـــــه‌وا خلی . دد غی جبهی جوړ‑ وو نکی‌عنا صر ( کار گرا ن،بز گرا ن، کسبکر ، ملی پانگه وال ، هیواد پالو نکی‌او آگاه‌روښانفکرا ن او تو لنیــــز

وطن پال شخصیتو نه) پـــه‌تولنه کی دیوی دا سی رنهـا مثال لری چی په پرا خوسا حوکی ځلیږی اود پلار و طنی د پرا خی ملی جبهـی د بنسټ‌ستر شعار د افغا نستا ن د خلك دد مو کرا تیك گو ندداودافغا نستان دد مو کرا تیك جمهوری دو لت له‌پا ملر نی‌شخه سر چینه اخلی چی د غو عناصرو ته راگرز ول شـوی‌ده. دپلاروطنی ملی پرا خه جبهه کی دبر خه وا لوعنا صر و گډ ه و جه همدا د ه چی د ارتجا ع ، امپریا لیزم،هژ مو نیز م او دبو می سر سیارونکو اود هغو دنړ یوالواو منطقوی گو ډاگیانو سره‌په غو څه تو گه مبارز ه کو ی‌اود افغا نستا ن د خلـــك دد مو کرا تیك گو ند ،دافغا نستا ن دد موک را تیـــك جمهوری دو لت اودلـــو ړدیر تمین انقلاب او په تیره‌بیا دهغه دنوی بشپړ تیا یی پړاوڅخه ملاتړ او ننگه گوی د غه مشترکه‌و جه یوه بنیاد ی‌ستنه‌ده چی کولا ی شی چی دفیو دالیز م دنظام دبقایاوو دبشپړله منځه‌و ړ لو اود یوی لو ی تو لنی په جوړو لو کی‌دهیواددتو لو ملی او دمو کرا تیکو قوتونو دگډ انقلا بی کار اوبیکار له‌پاره ښه زیر بنـــا وگرځی . دافغا نستان د دموکرا تیك جمهور یت دلیکوالانو اتحاد په دلور انقلا ب او به‌تیره بیاد هغه د نـــو ی بشپړ تیایی پړ او له ډ یر باارز ښتو گټو څخه شمیر ل کیږی.

۲

پد غه اتحاد په کی هـــملیکوا لان، شا عرا ن اومحققین غړی تو ب لری او هم ځوانولیکوا لا نو او شا عرا نو یوه دله چی د هغوی لیکنـــــی‌او سرود و نه زمو ږ د سبـــا

ور خی د خلا ندو اد بیا تـودرا منځ نه کیدو زیری ور ـ
کوو نکی ګنهل کیږی غړی توبلری. ویلای شو چیداتحادیی
دمر کزی شو زا یو شمیـــردپا ملر نی وړغړ ی هغـــه
کسا ن دی چی په اد بی ، اوتحقیقا تی کارونو کی یی‌زیات
کارونه تر سره کړی دی او دیوه منتقد په قو ل د انسان او
دهغه دسر نو شت په بر خه‌کی د نه تسخیر شوی عنـــی
قلمرو ته درسیدلو لـه پـاره‌ددوی داستعدا دو نو الما س
زمونږ شریفو، وطنپر ستو، قهرمانو خلکو چی په غو څـه سره دخپلوځانونو څخه‌زړورتیاا‌و رزمندگی ښودلی او ښیی کولی شی چی د پلار وطنی دملی پرا خی جبهی په لو مړی لیکه کی و در یږی او په هغه‌تو گه چی پخوایی په انقلا بی ایمان او زوږ سره‌دافغانستان‌دملی حا کمیت اودخپلوا کی او د خـاوری د تما میـت اودټور د پر تمین انقلاب د ښیگڼو او د خلکو او د خپل مخکښـی گوند د گټو سا تنه یې کړیده اوس هم‌کولی‌شی چی‌دخپلـی‌آزادی خاو ر ی څخه دخپل د وجود په‌هری ذری دفاع‌وکړی.دافغا نستان زیار کښان نورد افغا نستان دانقلاب ضد ته دااجازه نه ور کوی چی زمونږ په خاوره کی‌ور ا نکاری وکړی‌اوتو طیه واچوی .

نور نو دخلکو اود انقلا بـــی‌مبارز ینو او سپا هیانو په‌اراده ددښمن ټول ناوړه ځایونه او سنگرونه له منځه وړل کیږی .

او د نړی د ا مپریالیزم په سرکی یی‌دامریکا امپر یا لیزم
او د پیکن دهژ مونیسم ، اودسیمی دارتجاع د ټولو هلو ،
ځلو په خلاف چی په په لاره یی اچو لی دی د افغا نستان
خلك د افغا نستان د خلك د دموکراتیك گوند ترلار ښو و نی
اودپلار وطنی د پرا خی ملـی جبهی تر بیرغ لاندی یو موټی
کیږی او خپله مبارزه پرمخ بیایی او داجتماعی ترقی اوسولی
اودمو کراسی لاره چی د افغاـ نستان د خلکو یوه پخوانی‌هیله
ده اواره وی . دا د ټو لو گډقوت دی کو لی شی چـــی
افغا نستان د ورو سته پاتـی کیدو د حالت څخه وباسی .
او د پر مختگ او لوړ تیا په لوری یی بوزی .
دپلار وطنی پرا خه ملی‌جبهه په حقیقت کی د افغا نستان د
ټولو میلیونی وگړو دنیکمرغی‌ضا منه گڼل کیږی.
مخ په وړاندی د پرا خی‌ملی جبهی په سنگر کی د ټو لو
وطنپر ستو خوا کونو د یو والی په لور.

# د هرات دخلکو داستازی

## غلام حضرت ابرا هیمی وینا

زه په دا سی حال کی چی‌خپل د زړه له کومی تبریکات د عالی شورا رئیس دمرکزی‌کمیټی عمومی منشی ببـرک‌ـ کار مل د سیاسی بیرو ټولوزړه‌وروغړواو دوزیرانو شورا ته وړاندی کوم د پلار وطنـی‌له ملی جبهی څخه ملاتـــړ بیا نوم .

ویـاړ . لرم چی څـو کامی‌د دی جرگی د تاسیس پــه هکله وړاندی کړم .

دا.د.گ د مرکزی کمیټی دعمومی منشی ببرک کار مـــل اودنورو دوستانو اوحاضرینو په اجازه . د نن ورځی خبری دپلار وطنی ملی جبهی‌دبنسټ ایښودلو په هکله دی چی پـه نړی او ویاړ ښښو نکی بڼـی‌سره مینځ ته راغلی ده نـــن ورځ مونږ د خپل یووالـی اوپیو ستون کړنلار د افغـــا- نستان د خلکو د سیمی او دنړی ټولو خلکو تاریخ ته یی وړاندی کوو او په دی ایمـان‌لرو چی په لوړ سر او ویـاړ سره له دی ازموینی څخـــه ،چی له‌یوی خوا دذهنی تاریخی اوملی سا بقی په لحاظ ورسره نا آشنا نه یو او له بله پلوه د تشکل له مخی بی له شکه دنړی په تاریخ کی یوه نـــوی

ملی او ټولنیزه پدیده ګڼل کیږی ، ووزو ودا ټو لنه په حقیقت کی د ملی یووالی او دافکارو د تبادلی ځلید لـــی ښکار ندویه او دملی پیوستون کتل ځای دی او په دی حماسه جوړونکی مر حله کی داسی یوملت سر پورته کړی دی چی ډیر ستر او د روند موقعیت او دریغ سره مخامخ دی .
په دی مانا چی غدار امیر یا ـ لیزم او د خلکو دښمنـــان د ښامار په څیر زموږ وطن ته سترګی نیو لی د ی او خو له یی واز کړیده خودی باشهامته ملت د تاریخی تکامل په پیړاو کی هیڅکله خپل رسالت هیر کړی نه دی او نه یی هیروی او اوس هم د هر ډول قربانی لپاره تیار دی تر څو له خپلو معنوی اومادی ارز ښتو نـــوڅخه دفاع وکړی د جرګـــو جوړیدل ملی او ټولنیـــــــزمجلسو نه دتاریخ په اوږدو کی موږ ته له نیکونو څخه پـــه میراث را پاتی دی چی په غرور او ویاړ سره تری پاوی کـــوواونښو کولی چی په سختـــو حالاتو کی تری غافله پاتـــی شو . او حتی په صداقت سره وایو چی افغا نانو د غه ملـــی عنعنه د ستری آریانا په ملی مکتب کی زده کړی او سرته یی رسولی ده . نو له دی کبله دغی تاریخی لویی پیښی تـــه د رناوی کول چی د تشکیلاتو له نظره ساری نلری په حقیقت کی زموږ ملی ذمـــه واری او پیمان ته په درانده ستر ګـــه کتل دی او د هغو فکرونو په څرګندولو کی چی په دی لوی تالارکی د زمانی له شرایطـــو سره سم او د ثـــــــور ددمو کرا تیك انقلاب له عصره سره برابر د ملی مسایلو اوسیاسی او فر هنګی مسالو په برخه کی زموږ د عقیـــــدو نظریو او قضاو تونو څرګنـــ ونکی دی او د ملی پیو ستـــون هد فـ ته د رسیدلو لپـــاره د

دمو کرا تیکی روحیې نښښـــې‌نښانې گډل کیږي او د دې‌شي همیشنی ویاړ ، دیوې ملي اوټولنیزې پدیدې په توگـه ، د ټور د پرتمین انقلاب د تکاملي‌پړاو او د هغه ښنســــتې اینښودونکو او مبتکر ینو لپاره‌دی موږ چې په دې نړۍ کې‌په ویاړ لوبې او سر لوړې سره‌ژوند کوو د دې ملي اوتاریخي سمبالښت د لوی جوړیدنـې‌سره سم خپله لاره دیو وا لې مبارزې او زیاتو بریا لیتوبونوخواته خلا صو . د دې جبهې محتوی او عمومی مفهوم پـــه‌حقیقت کې د هیواد د ټولـــو مترقي ملي او زیار کښـــــوڅواکونو سیاسي او ټولنیـز جوړ ښت بلل کیږي چـــې‌ټینگښت یې زمونږ د هیواد د کار گرانو بز گرانو گټې پـــه‌لومړي قدم کې تظمینـــوي او زمونږ پاملرنه دا مهـــــم اوارز ښتنا که ټکې جلبوي چې د ټولنې بیاجوړول یا د نوی‌ټولنې جوړول په ورځنـــــې اصطلاح سره د ملي یووالې له‌تامین نه‌پرته سرته نه رسول کیږي خو شبختانه د ټولنـې‌په بیا جوړونې سره دې مهم اصل سره مخامخ کیږو چـې‌ملي‌یووالی اوپیو ستون عبارت دی د ټولنې د ټولو اجـــزاوراغونډ یدل په یو ټینگ‌ټرلې کل کې یا د ډیرو کو چینیـــوورو ټولنو اړول د یوه واحد ملت په بڼې سره مونږ وینـــوچې د اقوامو او قبایلو استازې د ملي او دمو کرا تیك انقلابي‌دولت سره په ارتباط کې چې د انقلاب له کلې بینـــادې اواساس کړښو څخه پیـــروی کوی په دې ملې غونډه کـــې‌سره راټول شو ید ی او لـــه مختلفو طبقواو اقشارو څخه‌یې‌فزیکــې تشکل مینډ لې دی او زموږ ملي یووالې پیاوړی کوی‌او دا هغه بهیر دی چې هـــر هیواد یې له ټولنیز اقتصادي‌او فرهنگي ستو نزو ســـره

سره بیا هم هغه تر سره کوی‌جبهی په واقعیت کی په ملی سطحی سره نفاق او دتحمیلی‌بحران پرابلم له مینځـه وړی او زمونږ د خپلواکی ملـــی‌حاکمیت او دخاوری د تمامیت د دښمنانو سترګو ته خاوری‌شیندی .

او له دی څخه ستر زیری‌نشته چی واتنونه سره نژدی کـوو د خـا و ر ی او ملـــی‌عمو مـی مصا لحـو کـــتو لپاره د زړونو مغـــــــزو اوروانونو د پیوند ولو ضمانت کوی او د دولت زعامت د خلکوپه مینځ کی زیاتوی د پـــلار وطنی ملی جبهی په بریالیتوب‌سره نو موړی ملی یووالـــی تحقق مومی چی دا په خپــل‌زات کی د نوی ټولنی دانقلابی طرحو او پروژو لپاره د ښـوزمینو او امکاناتو د برابرولو زیری ورکوی څکه تجربو پـه‌وارو وارو ښودلی ده هغه‌ملت بریالی دی او هغه مبــــارزه‌بریالی ده چی په هغه کی‌ملی یووالی د ملی احســــاس اومیړانی او وطنی پرستنی لـه مخی وی او د پیشس امدونـودر ګاو د پیښو څخه برداشت په ډیر متانت سره شوی وی‌او په هغه ټولنه کی چـــی د خپلواکی سولی د مو کراسی‌او عدالت اصول په واقعی او ټولنیزی ترقی سره خپلــــی‌خوږی ګتنی د خپلو وطنوالوپه مقصد او وجود (کام و جان)کی قربانوی .

ګرانو حاضر ینو !

په خوښی سره وینم چی دهمدغه مقصود پړاو په لوری لاره پرانستل شـوی ده او دافغا نستان په پښو دریدلـی ملت په ډیره میړانه د امپریا لیزم د شومو نقشو په ضـــد غښتلی او زمونږ د کـــار اوپیکار ښبانی د همدغه ملـــی

یووالی د پلار وطنی ملی‌جبهی‌په مفهوم کی لیدل کیږی .
اوس چی مونږ دژوندانه‌د ډیرو مشکلو پړاوونو څخه تیر شوی یو ډاډ در کوو چی‌زمونږ لوړ همت زمونږ ملـــی قووتونه زمونږ فطری ثبـات‌او استقامت د اهر یمنانو او طاغوتانو په چلونو غلبه‌مومی‌او د بل ځل د پاره د پردیو طلسم ماتوو او رســـــوخ او اعتباریی‌دخاوروسره‌خاورې‌کوو د دغی جبهی جوړیدل زمونـږد وطن د خوار یکښانو پــه لوری یو بل گام دی دخوریدلوپه گټه او دستمگرانو پــه‌زیان دی له همدی کبله د مسوولیت‌په احساس سره د وطـــن د راتلونکی په وړاندی گــــرانووطنوالو نمایند گانو تــــــه څرگندوم چی دغه جبهــــه دافغا نستان د خلکو او د هر پتمن اوهیواد پال او افغـان‌تبعه بیداری او ملی غـرور او افغانی شهامت نور هم پسی‌زیاتوی چی په سـ رلوړی سره د مبارزی لار وروسته پاتـی‌والی او د دمو کرا تیکـــــو امکاناتو د نشت والی پر ضدمخ ته بوزی او د خپل انقلابی دولت‌دپلانونو ، نظریاتواوطرحوچی په سرکی یی گـــران او عزتمن ملگری ببرك کار مـل‌دی په انتباه اخستلو سره د پر مختگ او ترقی مسیرغوره‌کړی . او داسی کار او پیکار تر سره کړی چی زمـونـږ دنیکونو ارواگانی خو شهالـــه کړی نیکمرغه دی وی دغــــه‌جبهه چی زمونږ په تاریخـــی او ملی یواوالی او یو موټـی‌کیدو باندی د تایید مهــــر کیښود او زمونږ لاره یی پــردښمنانو باندی د پراخـــــو بریالیتو بو دا فقونو په لوری‌لا رو ښانه وټاکله .
تل دی وی انقلابی افغـــانستان .
ژوندی او تـــل دی وی دافغا نستان د خلك دموکراتیك گوند .

# د غلام محمد محسن زاده وینا

خو یندو ورونو او د پلاروطنی ملی جبهې د کنګرې محترمو ګډون کونکو !

اجازه راکړی چې دافغا نستان د سولې او پیو ستون د سازمان په نمایندګی د افغا نستان د خلك دموکراتیك ګوند د مرکزی کمیټې د عمومی منشی د انقلابی شورا د رئیس او درئیسه هیات صدر محترم ببرك کارمل د ګټوری اومحتوانه دکی وینا څخه خپل هر اړخیز او غوڅ ملاتړ څرګندکړم .

زمونږ د ټولنی ټولو لارښتینی مترقی او دموکراتیك قوتونه زمونږ د وطن ټول وطنپا لونکی په خاصی مینی او علاقی سره د نن ورځی کنګره چی د افغا نستان د دمو کرا تیك جمهوریت د پلاروطنی ملی جبهې د جوړیدو په ارتباط ده زمونږ د پر ګنو او ټولنیزو ساز مانونو د یووالی یولوړ او عالی شکل او د ګډ پلا تفورم پر بنا د پراخو پرګنو او ټولنیزوساز مانونو تشکل او زمونږ د ویاړلی انقلابی افغا نستاند ملی او ټولنیز پر مختګ او غوړیدنی پخاطر د ملی اودمو کرا تیکو دندو د سرته رسولو په توګه منلی او دهغی څخه ټینګه او ژوره ننګه اعلاموی .

دپلار وطني مې جبهــــــې‌جوړيـــدل زمونـږ د هيواد د ټولو خلکو ټولنيزو سازمانونوطبقو اقشارو او د ټولنــــې د ټولو دمو کرا تيکو او مترقي‌ډلو او قومونو او مليتونو له ګټو سره پوره سمون لري د دې ستر ارمان تر سره کول په تيره بيا زمونــــــږماموريتو د پاره د نــړى د بيلو بيلو خلکو سره د دوستي‌او پيوستون په ډګرکې خورا زيات ارزښت او اهميت لري‌ځکه چې د پلار وطني ملـــــې جبهې اصول او هد فونـــه دنړى د بيلو بيلو هيوا دو نوله خلکو سره د افغا نستـــان ددمو کرا تيك جمهو ريـت د دوستي پيو ستون او سولـې‌د شورا هد فونه او دنـــدى منعکس کوى او د افغانستان‌زيار کښو او شر يفو خلکو د نړيوالو او د نړيوالو ترمينځ‌د متقابلي همکاري او دوستي د ټينګښت په بنا زمونږ دخلکودسترو ارما نونو سره سمون لري . زمونږ پراخ او پرګنيـزسازمان فعالين او صفــوف د پلار وطني ملي جبهـــــې دجوړيدو کلك ملاتړ کوى اوهغه په هر اړخيزه توګه تاييد وى‌او د ټولنيزو ساز مانونـــو د مخکښو په توګه يې د ټولـوساز مانونو په جمله کې د دې ستري او نفوذ لرونکې جرګې‌په دننه کې نه بليدو نکي جز ګڼي .

له بهر نيو هيوادونو سره‌د افغا نستان د دمو کرا تيــك جمهوريت دسولي اوپيوستون‌سازمان د افغا نستان د خلــك دمو کرا تيك ګوند د افغــا نستان د دمو کرا تيـــــك جمهو رى حکومت د بهرنـــى‌اصولي سياست او مشي ښخه د سولي د تامين روغه جوړه‌کې ژونه کولو نړى‌وال کړکيچ په ليرى کولو او د ګډى اومتقابلي همکاري په ټينګښـــت

کی غوځ ملاتړ کوی .او دی‌اصل ته د رسیدو د پاره په نړیواله سویه به خپلو فعالیتو نو ته دوام ورکړی .

محترم ببرک کارمل په خپله وینا کی وویل :

((د جبهی انترنا سیو نا لستی پیوستون فعالیتونه به زمونږ د خلکو د ټولو مترقی‌قوتونو سولی او دمو کراسی ته پراختیا ور کړی څکه چی‌جبهه د دوستی اوهمکاری منا سبات د ټولو ټولنیزوسیاسی او ورته ساز مانونو سره ټینګوی او هغی ته وده‌ور کوی)) .

د افغا نستان د دموکراتیک‌جمهوریت د سولی دو ستی‌او پیوستون سازمان د پلار وطنی‌ملی جبهی د ستر هدف دتحقق د پاره او د افغا نستان دټولودوستو هیوادونو دتاریخی تر سره شویو کارونو سره دآشنا کولو به برخه کښی . په تیره بیا د افغا نستان ډیرنژدی همسنګر او د سختو ورځو دوست شوروی اتحاد اونورو سوسیا لیستی هیوادونو سره به زیاته مرسته وکړی .

او همدارنګه له شورو‌ی‌اتحاد سره د کلونو کلونو د ارزښت نه ډکه دوستی اوهمکاری به وساتی او هغی ته به لاپسی پراختیا ور کړی .

اود نورو هیوادو له ورته‌سازمانونو سره بهد پلاروطنی ملی جبهی د نژدی همکاریو اواړیکو د ټینګښت د پاره هڅه وکړی . پرین ده چی زمونږ‌په خاور ینه کره کی د تل لپاره د سولی بیرغ به رپاوی.

ژوندی دی وی پلار وطنه‌ملی جبهه .

# د ملي سوداګرو د استازی

## عبد الکریم کریمی وینا

د افغانستان د خلک دمو کرا تیک ګوند د مرکزي کمیټې د عمومي منشي دانقلابي شورا د رئیس محترم ببرک کارمل او د پلار وطني‌ملي پراخې جبهې د استازو په اجازه!

ما د کابل د ښار د وطنپالو سوداګرو کسبګرو په نما یندګی د محترم ببرک کارمل ګټوره او له محتوانه ډکه وینا په غور سره‌واوریده‌او د خپل ځان او د کابل د ښار د وطنپر ستو ملي‌سودا ګرو او کسبګرو له‌پلوه هغه تایید وم او کلک ملاتړ یې‌کوم ټولو ته څرګنده ده چې زمونږ د هیواد په اوږده تاریخ کې قومي او ملي جرګې د ستونزو او مسایلو په حل کې‌مهمه اوستره ونډه لري اودغه وګړنیز او ولسي دود په‌کراتومراتو زمونږ خلک بر یا لیتو ب ته رسولي دي .

جرگی د خلکو او دولت ترمنځ ټینګی اړیکی پیدا کوی‌د لس ګونو کلونو راهیسی‌چی دهیواد پالو او انقلابی ځواکونو له خوا د ملی جبهی‌جوړیدل مطرح سوی دی خو یوازی د ثور انقلاب د نوی‌بشپړ تیایی پړاو اود ا تحادیو او ټولنیزو ساز مانونوشتوالی‌وچی د دی‌ستر هدف او ارمان دترسره کیدو او د جبهی دجوړیدو د پاره لازم شرایط برابر شول . دغی ضروری اومهمی طرحی چی اوس یی قانونی قوت‌پیداکړ او د افغانستان د دمو کرا تیك جمهوریت په‌اساسی اصولو کی یو معتبر اواساسی سند ګڼل کیږی‌داسی راغلی دی .

(( د افغانستان په د موکراتیك جمهو ریت کی د زیار ایستو نکو قدرت په‌پلار وطنی ملی پراخی جبهی باندی ولاړ دی چی ټول‌کار ګران ، بزګران ،کسبګر ، کو چیان ښځی ، ځوانانرو ښنفکران او دټولو ملیتونو قومونو استازی او نور ټول‌مترقی دمو کرا تیك او وطن پرست ځواکونه ټولنیز اوسیاسی ساز مانونه دیوی نوی خبلواکی او دمو کرا تیکی‌ټولنی د جوړونی د عمو می پرو ګرام په اساس د افغانستان د خلك دمو کرا تیك ګوند تر رهبری لاندی یوموټی‌کوی .))

مونږ وینو چی پلار وطنه‌ملی‌جبهه جوړه شوه اوزمونږ انقلابی دولت د ټولنیزی اوسیاسی تکیه ځای زیاته ټینګتیا او پراختیا و مونده.دیادونی وړ ده چی مونږ د نوی بشپړ تیایی پړاو ملی‌سوداګر او ملی پانګه وال چی د ګوند او دولت د رهبری‌اصولیت او صحت مو ښه‌درك

کړی دی د هیڅ ډول اندیښنې‌نه پرته خپلو اقتصـــا دی فعالیتونو ته دوام ورکړی دی‌لکه چی د یوی ژوری احصایی له مخی څرګنده شوی ده چی‌د ۱۳۵۸ کال په پرتله پــــه خصوصی سکتور کی په سلوکښی ۸۰ زیاتوالی راغلی دی نو څکه مونږ ډاډ درکــوو چی‌وروسته تر دی به د خپلــــو فعالیتو نو ساحه نوره هـــم‌پراخه کړو .

بریالی د ی‌وی د پلار وطنه‌ملی پراخه جبهه ، پیاوړی دی وی زمونږ د ګرا ن‌افغا نستان‌د اوسیدونکو قو مونـــو او قبایلو یووالی . ژونــــدی دی‌وی دافغا نستان د دمو‌کراتیک جمهوریت .

# د پلار وطني ملي جبهې د اساسنامې په

## باره‌کې د پرا خې پلار و طني ملي جبهې د موسسې کنگرې مصوبه

مونږ د پلار وطني ملي جبهې د تاریخي ستري او پر تمینې مو سسې کنگرې گډون کوونکي د دموکراتيك او انقلابي افغا نستان د زیار ایستونکو د اوږدې ویاړلې ملي او وطنپا لو نکي مبارزې د استحقاق استازیو په توگه د نوي او آزادې ټولني په جوړولو کې او په همدې ډول د ویاړ لي هیواد د ټولو زیار ایستو نکو چې زموږ د واحدې خاورې گران افغانستان ټول او سیدونکي وروڼه ، قومونه ،قبایل او ملتونه یکې دي د یوالي او و حدت په لارکې زموږ د ربړیدولو زیار ایستونکو دغه پخوانۍ او مقدسه هیله د افغانستان دخلك ده وکرا تيك گوند د مرکزي کمیټې د عمو مي منشي ، د انقلابي شورا د رئیس او د انقلابي شورا درئیسه هیات د صدر گران ملگري ببرك کار مل د وینا له‌اوریدو وروسته هغه په صمیما نه توگه او د رایو په‌اتفاق تایید وو او ملاتړ یې کوو .

موږ به د دې وینا له متن څخه دخپلو ملي او هیواد پالو وظیفو د اساسي کرښو اواړخونو په توگه کار واخلو موږ د پلا ر و طني ملي جبهې داساسنا مې به باب ، د وینا له اوریدلو او ژورې څیړ نې وروسته د پلار وطني ملي جبهې اساسنامه د رایو په‌اتفاق تایید او تصویبوو .

# د هیواد په دننه او بهر کی هیوادوالو ته

## دپلار وطنی ملی جبهی دکنگری پیغام

**د لوی او مهربان خــدای په نا مه !**

**گرانو ورو ڼو او خو یندو، دافغا نستان پتمنو مسلما نانو!**
**زموږ د گران هیواد ټو لـوربنتینو هیواد پا لو !**

موږ د افغا نستا ن د دمـوکراتیك جمهوریت د پـــلار وطنی ملی جبهی د مو سیسی کنگری بر خه وال تا سو تـــه اعلا مو و تصمیم مو نیو لـــی دی چی دغه ساز مان جـــوړ کړو او پدی تر تیب د هیوادد هر اړ خیزی تر قی له پـــاره دټولو هیواد پالو د کلـــك او ربنتینی یو والی په باره کی د خپلو خلکو تاریخی هیلی ترسره کړو .

دلته مو ږ پد ی کنگره کی د افغا نستان ددمو کرا تیك جمهوریت د ټولو ملی او هیواد پالو قو تونو نماینده گی کوواو د هغوی له خوا اعـلا موو چـی د خپلو خلکو تیرو قهر مانیو ته کلك در ناوی کوو د خپلو نیکو نو دودو نو اوروا جونو ته در ناوی کوو او د هغوی له مبارزو او بر یالیتو بو نوښخه الهام اخلو او په واحده لیکه کی پر مخ ځو چی خپل هیواد نیکمر غه او سمسور کړ و .

دثور پر تمین ا نقلا ب پـه هیواد کی د تر قی او ټو لنیز ربنتینی عدالت د ټینگښـــت لاره پرا نیستی په بری سره

دانقلاب هد فو نو ته رسیدل‌تر زیاتی اندازی پو ری پد ی اړه لری چی تر کو مـــــی ، اندازی دافغا نستان د خـلکو پر گنی په پرا خه او کتلو ی توگه دخپلو پاگوار مانرنو دتر سره کو لو له پاره په فعا له‌مبارزه کی جلبیږی .

ټو لنیز ساز ما نو نه چی‌دټولو طبقو ټو لو قشرو نواود هیواد د خلکو د سترو ډلواودا فغا نستان د ټو لوهیواد پالو ټولنیزو ملی او مذهبی قوتونو نماینند گی کوی د خلکو لـــه ارادی او گټو سره سم په پلاروطنه ملی جبهه کی شا مـــل شویدی.

موږ ټولو هیواد پالو ته که‌دساز مان په بڼه یا د جـــــلا شخصیتو نو په تو گـــــــه‌وی چی تر او سه پوری پلار وطنه ملی جبهه کی ندی‌شامل‌شوی او کولای شی د جبهی انفرادی غړی وی بلنه ور کووچی په پلار و طنه ملی جبهـه کی شا مل شی .

زموږ د هیواد د ټو لـــــــوهیواد پالو او د مغه د ټو لـو دمو کرا تیکو قو تو نو یووالی‌هغو مسا لو ته ځواب ور کوی چی زموږ خلك یی د انقلاب‌په‌دمو کرا تیك ملی پړاو کی‌حل کوی .

د پلار و طنی ملی جبهـــــی‌جوړیدل تر ټولو د مغه دلوو انقلاب په بشپړ تیا کی نـــوی‌گام دی څکه ټول هغــــه‌کسان چی د هغه دو گړ ئیزوهدفونوله تر سره کو لو سره مینـــه لری په هغی کی برخه اخلی .

**گرانو ورونو او خویندو!**

دافغا نستان خلك زیاته‌موده‌داشغا لگر انو امپر یالیستانو او بی و جدانه وا کمنانو لـــه‌لاسه کړیدلی او ځوریدلی دی،

هغوی هڅه کوله چې ټول خلک یو د بل څخه جلا کړی او افغا نان یو بل پر خلا فسره واچوی ، خو د افغا نستان خلکو تل هڅه کوله په خپل یو والی سره د هغوی په وړاندی مقا ومت و کړی کله چې خلک یدی لار کی بریالی کیدل د افغا نستان دښمنان شر میدل .

اوس زموږ د گران هیوادد ښمنان بیا زیار باسی چې دوسلی د قدرت له لاری د ،امپریا لیزم او ارتجاع اراده زموږ پر خلکو تحمیل کړی هغوی غواړی چې زموږ د گران هیواد را تلو نکی دسوله ییزوالو دمو کرا تیکو خبرو له لاری نه بلکی د خو نړی جگړی اوورو وژنی له لاری وټاکل شی ، هغوی غواړی یو ځل بیا هڅه وکړی چې د افغا نستان خلک دهغو کسانو د لاس آله شی چې د هغوی د سر نو شت په وړاندی بی تو پیره دی او د هغوی له ټولو کړ او و نو اور برو نو څخه یه خپله شخصی گټه استفاده و کړی یوازی د انقلا بی ضدګو تو نو مشران تل د قدرت او له امپریا لیستانو او بهرنی ارتجاع څخه د پیسو د ترلاسه کو لو له پاره په مجادله کی دی او زیار باسی دهغوی دارادی له مخی په هیواد کی ورورووژنی ته لمن و هل کیږی د هغوی د ارادی له مخی هره ورځ داسلام په نامه په واقعیت کی د اسلام پر ضدیو لړ جنایتو له کیږی .

هغوی په ټول قوت هلی ځلی کوی چې په هیواد کی د سوله ییز ژوند خنډ شی ځکه چې سو له د هیواد د پر مختگ نیکمر غی او سمسور تیا په لور یوه لار ده او هغو ی یوازی د خلکو د نا پو هی او تیاری په شرا یطو کی کولی شی خلک لوټ کړی هغه څه چې په امپریا لیستانو

پوری اړه لري هغــوی ددې‌له پاره د انقلا بیو نو ضـــد وسله وال‌کړی اوپیسی ورکوی‌چې نه غواړي افغا نستـــان پیاوړی یو موټی‌او سمسو روږینی هغوی غواړي زموږ هیواد دتل له پاره د بې اتفا قی په‌اور کې ووینی او پدې ډول کمزوری او بې دفاع شي .

**خو د ارتجاع پلا نو نـــه‌تر سره نه شول مو ږ پـــه ځان کې ستر قوت احساسووچې د افغا نستان د خلکـــو دنیکمر غو مبارزانو په واحده‌لیکه کې ودر بړو او دامپریا۔ لیزم او د سیمی د ارتجـــاع‌دسیسی پای ته ورسوو .**

افغا نان هغه وخت پـــــر‌دښمنانو بر یالی شول چـــې یو پیا وړی او قوی او مستعدخواك پیدا شو چې هیواد ـ پا لا ن یې یو مو ټی کـــړل‌او ویې کو لای شو ل چـــې دستر هدف په لور یـــــې رهنمایی کړي ، مو ږ او سـس داسي قوت لرو نن قدرت دیوه‌داسی کو نه په لاس کې دی چې‌تل د ټـولو ملی او دمـــوکراتیکو قو تو نو د یو والی‌له پاره جنګید لی او په خپلو ټولوتاریخی سوابقو او وس سره یې د ستر ارمان د تر سره‌کولوله پاره د افغا نستان د ټو لـو خلکو یو موټی کول په پر له‌پسی تو ګه ښودلی دی .

دبری وثیقه په دی کـــې‌ده چې د افغا نستان ټو لـــــو متر قي خواکو نو د افغانستان‌دخلك ددمو کرا تیك ګوند د زیار ایستو نکو د ګټـــــو ددغه څر ګندو ونکی اوزموږ د خلکو ددمو کرا تیکو غو ښتنو دریښتنی مدافع په شااو خوا له خپل یو مو ټی کید لـــــوورو سته په پای کی دغـــه امکانات تر لاسه کړل چې د خلکو لر غو نی هیلی یعنـــی خپل هیواد ته خدمت سر ته‌ورسوی .

موږ د پلار و طني ملي‌جبهې په شاو خوا يو مو ټمې کېږو چې دخپلو خلکوداسارت‌ګرانو او دښمنانو دبريدو نو خنثې شي او د خپل مظلوم‌هيواد ټپونه معا لجه کړو او خپل قوت او استعداد خپلې مادي او معنوي زېرمې د ګران هيواد افغا نستان د ترقۍ‌له پاره تنظيم کړو .

**موږ متحد شوو چې زموږ دټو لنې د بيلو بيلو برخو تر مينځ نښتې پای ته‌ور سوو هغه بې اتفا قي دښمنې او بې باورې چې‌دامپر يا لستا نو دچين لويې غو ښتو نکو او د سيمې دارتجاع له خوا ور ته لمن وهل کېږې پای ته ور سوو .**

موږ يو موټي شوو چې ټولې‌به مر غې او ويرې اچو نې پای ته ورسوو چې د افغانستان د خلکو تر مينځ بد ګماني او دښمنې له مينځه‌يو سو ، د دوستنې او دوروروګلوی د همکارې فضا ټينګه کړو، په دغه شان فضا کې کيدای شي متقابل تفا هم‌ته ورسيږو او د هيواد دپرا بلمو نو د دوستا نه‌حل له پاره رښتينې‌لار پيدا شي .

مو ږ تا سې هغو ا فغا نانوته چې د غو لونې له لارې د خپلو خلکو او انقلاب پر خلاف‌جګړې ته ګمارل شوي ياست خطاب کوو په درو غجنو اوپلورل شو يو مشرا نو باندې چې‌د اسلام د دين‌موازين‌تر پښو لاندې کوي با ورو نه کړې د پر ديو کټو ته خدمت‌کول پای ته ورسوي .

**له غرونو څخه را کښته‌شي‌او هغه يوی او سپا ر ی په لاس کې وا خلې چې ستا سولاسونه د هغو له نشته والي څخه زړه تنګې شو يدی ،څکه تا سو ته ستر کې**

پــــه لا ر ه کورنی تا سو ستر گی په لاره دی . افغا ـ نستان تا سو ته ستر گــــی په لاره دی تا سی ددی هیواد بچیان یاست ، هغه مـــــه ورانوی بلکی جوړ یـــــی کړی .

موږ تا سو هیواد والو ته په خطاب کی چی دد غـــو یا هغو علتو نو له ا مله زموږدهیواد له پولو څخه بهر یاست اعلا موو خپلو کورو نو تـــه راشی چی د افغا نستان دخلکو په یوه واحده کور نی کی په خپل کار او زیار سره له نیك مرغی ډکه را تلو نکی رانژدی کړی .

زمونږ افغا نستان داو بواوخاوری له نظره بډای دی زمونږ په غرونو کی ډیری بډای شتمنی پټی دی زموږ خلك زیار ایستو ـ نکی او کار کوونکی دی .

موږ هر څه په واك کـــی لرو چی کولای شو خپل هیواد په سمسور بن بدل کـــړو چی هر افغان نیکمر غـــــه او خو شحا له ژوند وکـــــړی دو لت په غوښه تو گه د ځمکو اصلا حاتو ته دوام ور کـــوی او داسی کار به وکـــــړی چی ټول د ځمکی خا وندان شی زموږ انقلابی دو لـــت غواړی د ځمکی اصلا حـــات سر ته ور سو ی بی ځمـــکی او لږ ځمکی بز گرانو په ځمکی سره تا مین کـــــړ ی ، دو لت غواړی چی د قـــــرآن کریم له موا زینو سره ســم دغی ځمکی په خپلو خاوندانـــو پوری اړه پیدا کـــــړی او د افغا نستان ټو ل خلـــــك د خپلی کورنی له پاره پرهغو باندی کارو کړی .

موږ ټولو پتمنو افغانا نـــو ټولو هغو کسانو ته چـــی هیواد خپل غرونه سیندو نه بنو نه او دښتی په رښتنی ، تو گه ور ته گرانی دی بلنه ور کوو را شی چی یو ځـــای

کړه کار و کړو چې پــــدې‌ډول د خپلو خلکو پخوانۍهیله تر سره کړو بې و زلې ناروغۍ‌لوږه او نا پو هې پای تــــه ورسوو .

ددغه کار د سر ته رسو لوله پاره هر څه لوو ، مینــــه وسایل داسې دو لت چـــې‌دخلکو د غو ښتنې ځر ګندوی دې داسې دو ستان چې خپـل‌لاسونه یې د ازما ینښت پـــه شیبو کې زمونږ خوا ته اوږده‌کړی دی ، یواز ینې شـــرط چې ددغو غو ښتنو د تحقــــق‌له پاره په کار دی سو لـــــه او آرامې ده نو بر ېږ دی هرڅوك چې په سو له او آرا مې کې د افغا نانو د ژوند خندشي‌او که څه هم په هر ډول‌انګازو ډکو او غو لوو نکو جملو سره‌خپل ځان پټ کړی د خلکو د دښمن په تو که به اعلام شي .

ورونو اوخویندو دپلاروطني‌ملي جبهې په شاو خوا راټول شی د خپل هیـــواد دښمنانوپه افغاني ور تیا سره غا ښې ماتوونکی ځواب ور کړی .

پر یږدی چې زمونږ د ګران‌وطن په فضا کی سو له او، آرا می ټینګه وی .

•••••••••••••

# د سیمی خلکو ته د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د پلار وطنی

## ملی جبهی د موسسی کنگری پیغام

موږ د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د پلار وطنی ملی جبهی د موسسی کنگری گډون کوونکی په دی پر تمینه ورځ په نوی انقلابی افغانستان کی د پلار وطنی ملی جبهی د جوړیدو په مناسبت او د خپل هیواد د ژوند په تاریخ کی دی ستری پیښی لپاره د دی سیمی ټولو ورونو او دوستو خلکو ته او همدا راز د هند د سمندر د سیمی او د آسیا د لویدیځ د ټولو هیوادونو خلکو ته زیری ور کوو .

د پلار وطنی ملی جبهی منځ ته راتگ دا واقعیت بیانوی چی زموږ خلک د هراړخیز پر مختگ او د گران وطن د آبادی او نیکمرغی لپاره د خپل وحدت او یووالی نوی او لوړ پوړته رسیدلی دی .

دا پیښه ثابتوی چی زموږ ملی دموکراتیک انقلاب چی د حقه د بری په نتیجه کی واقعی دموکراتیک دولت منځ

ته راغي د خلکو د پراخو پرگنو ملاتړ یې ترلاسه کړی دی او

دا پيښه پر دی حقيقت باندی دلالت کوی چی زموږ گران افغانستان به ژر ترژره او په بری سره د واقعا عادلانه آبادی او نیکمرغی ټولنی په لور تکامل وکړی .

دغه پيښه په ښکاره ښيئي چي د ټولو وطنپالو لونکو د صادقانه هر اړخيزی او اغيزمني همکاری لپاره او د هيواد د نيکمرغه مستقبل په خاطر د سولې تر سيوری لاندی د ټولو افغانانو د دعو کرا تيکي مفاهمي په منظور خورا مساعد شرایط او امکانات په افغانستان کی مينځته راغلی دی .

دا پيښه په وضاحت سره ښيئي چي د نوی افغانستان د دښمنانو هر راز هلی ځلي چي وغواړی په زور او چل ول د هغه دبر مختگ خنډ شي له درنی و شر موونکی ماتی او نا کامی سره به مخامخ شي. دپلاو وطني مو سسی کانگری مینځته راتگ پردی حقیقت باندی دلالت کوی چی پـه سیمه او نړی کی بـه د پایښتو نی سولی د تامين لپاره د بين المللی تحکيم او امنيت اودتولی سیمی اود نړی د خلکو د ترقی او ايجاد پاتو د گټو دساتلو په خاطر اود دی هدف لپاره د بين‌المللی مساعدو شرايطو د هستو لوپه منظور زموږ خلك نسبت پخواته لا زیاته فعاله او جدی مبارزه پرمخ بوزی .

یوازی د غو بیان شوی ـــــــ وعادلانه هد فونو ته د رسیدلو لپاره موږ د خپلی سیمی خلکوته چی زموږ خلکو له هغـــوی سره تل د ګډ ژوند ښـــــــه ګاونډیتوب همکاری او متقابل احترام عنعنه لر له په سیمـــه کی دوا مداری سولی اودحالتد عادی کولو په غرض بلنـــــه ور کوو .

موږ دایران نجیبو خلکو ته په خپل خطاب کی یو ځل بیا اعلاموو چی د ټولو مسا لو اویا دهغوی د یوی برخی په باره کی چی زموږ او دوی منځ تـــه پرتی دی د مخامخ او بی قید او شرطه خبرو اترو لپـــاره چمتو یو .

موږ په خپل خطاب کی دپاکستان خلکو ته د هغـــــو ټولو مسالو او یا د هغــــوی د یوی برخی په باب چی زموږ په وړاندی پرتی دی د مخامخ او بی مخکینی قید او شرطـه خبرو اترو اعلام کوو .

**موږ اعلا موو چی دافغـــا نستان خلـك بـه هیڅکلـــــه داخلا فاتو ، ورور وژنـــی اودښمنی پر لاره چی دخطرناکو اعما لو سبب ګر ځی ګــــام اوچت نکړی او موږ انتظـــار لرو چی دپاکستا ن دو ست اوورو نه خلـك خـــا ر جی او اجنبی قوتونو ته چی داسلام دسپیڅلی دین او زمو ږ له هیوا دونو دخلکو ګـــډ دښمنان دی مو قع ورنه کړ ی چی خپله اراده تحمیل کاندی او دتیری او په ښوسترګو دورور و ژلـو وسیله و ګر ځی .**

موږ په سو له ایزه تو ګــــه یعنی دخبرو اترو له لار ی د افغانستان د شا و خوا د سیاسی مسالو دحل له پاره خپل تیار ی اعلا موو .

موږ عمداً راز تا ییبد ووچی له افغانستان څخه دشوروی اتحاد د محدو دو نظامی قطعاتو دو تلو مسئله دد غی سیاسی حل په اړ خ کی حل کیدلای شی او باید حل شی .

باید هیڅوك د دوه اړخیزو بی قید او شرطه خبرو اترو له پاره زمو ږ چمتووالی زموږدکمزور تیا نښه و نه بولی ، بلکی ددی په عکس دافغانستان په دمو کراتیك جمهو ریت کی دپراخی پلاز وطنی ملی جبهی منځته راتګ په څپلسه زموږ دقو تونو دیووالی او اعتماد روښا نه ثبوت دی چی ورځ تر ورځی پسرا ختیا مو می.

موږ هیله لرو چی ددا سی خبرو اترو دمذا کرا تو د تـدارك له پاره غـو ښتنه په سیمه کی د تشنج له کمولو اودوسله وا لو سیا لیو لـه منځ کوولو سره مرسته وکړی.

موږ دوزور ګلوی، دو ستی ،ښه ګاو ندی تو ب عا لی عنعنو ته و فاداری له کبلـه چی ژوری تاریخی او لرغو نی ریښی لری او دافغانستان خلکو له ارادی سره سم دانور دنیکمر غ انقلاب په نوی پړاو کی پیاوړی تیا ، تکا مل او تحکیم مو می .دهند نجیبو خلکو ته خ طاب کوو.

موږ دسو یلا تکا ، نیپا ل بو تان، بنګله دیش اود آسیا لویی و چی اود هند دسمندرد سیمی تو لو خلکو ته دسو له

ایزو ارما نو نو ،تر قــــی اودخلکو او گاو نه یانو ترمینځ دوستی ته دو فادار ي پـــــه‌رو حیه خطاب کوو چی مونږ حاضر یو د دغو عالی ار مـانو نو دتحقق له پاره له دو ی سره همکار ی او گــــه مبارزه پر مخ یو زو.

**پرېږ ده چی سو لــــــه‌غوښتو نکی او به اود هنــــد دسمندر ژور تل ددغی سیمی‌دټولو خلکو په خا طر دسولی او پر مختگ‌هدفونو ته خدمت‌وکړی.**

**پرېږ ږده چی د امریکا د امپریا لیزم اود هغه دپلویانو تیری کوو نکی سیاست لــــه‌شر موو نکی ما تی سره‌مخامخ شی.**

# د پلار وطنی ملی جبهې دملی کمیټې
# داجرائیه هیات غړی

د پلار وطنی ملی جبهـې دملی کمیتې د اجرائیه هیئت او مسوول سکرتر نومونه د الفبایه ترتیب :

۱ـ اسدالله حبیب د افغـانستان د دمو کرا تیـــــک جمهو ریت د لیکوالـــــو اوشاعرانو د اتحادیې رئیس .

۲ـ اناهیتا راتبزاد د گوندد مرکزی کمیتی د سیاســـی بیورو غړی . د سولې دوستی‌او پیو ستون د سازمان او د افغا نستا ن دښځو د دموکراتیك ساز مان رئیسه.

۳ـ برهان الدین غیاثـی دگوند د مرکزی کمیتې غړی د افغا نستان د ځوانانـــــو ددموکرا تیك سازمان د مرکزی کمیتې لومړی منشی .

٤ـ سلیمان لایق د گوند دمرکزی کمیتې غړی د قومونو او د قبایلو د عالی جرگـــی‌رئیس .

٥ـ سعید افغا نی د افغـانستان د دمو کرا تیـــــك جمهو ریت د اسلامی شئونولوی رئیس او د افغا نستان د عالمانو او رو حانیونـــو دشورا رئیس .

٦ـ ډاکتر صالح محمـــــدزیری د افغا نستان د خلـك دمو کرا تیك گوند د مرکزی‌کمیټی د سیاسی بیرو غـړی او منشی .

۷ـستار پردلی د افغانستان‌د دمو کرا تیك جمهوریـت د صنفی اتحادیو د مرکزی شورارئیس .

۸ـ ډاکتر عبد الغفارلکڼوال‌د کرنی د کو پرا تیفونـــــو د مرکزی شورا رئیس .

۹ـ استاد غوث الدیـن دافغا نستان د هنر مندانـو د اتحادیی رئیس .

۱۰ـ حیدر مسعود د افغـانستان د ژور نا لستانــــو د اتحادیی رئیس .

۱۱ـ مولوی‌محمد سالم‌علمی‌د افغا نستان د عالمانــــو او رو حانیونو د شورا غړی .

۱۲ ـ مهر چنـــــد ورماد افغا نستا ند دمو کرا تیك جمهو ریت د سوداگـــری اوصنایعو د اتاقو نو لـــــوی رئیس او د افغا نستـــان ددمو کراتیك جمهو ریـــت د اقتصادی او مشورتی شـــوراغړی .

۱۳ـ نجم الدین کاویانی دمرکزی کمیټی غړی اودمرکزی کمیټی دتشکیلا تو مسوول .

۱٤ـ نورالله تا لقانی دملی‌ملی دفاع د وزرت دنشرا تـو رئیس .

۱۵ـ ډاکتر محمود حبیبی کابل والی .

۱٦ـ پوهاند علی محمد زهما د علومو د اکاډمی غړی او د پوهنتون استاد .

۱۷ـ عبد الرحیم هاتف تولنیز شخصیت .

۱۸ـ فرقه مشر فتح محمد ټولنیز شخصیت .

۱۹ـ سید اکرام پیگیر د افغانستان د خلك دموکراتیك گوند دمرکزی کمیټی دسندونو او ارتباط مسوول .

۲۰ـ محراب الدین پکتیاوال د پلان جوړولو د دولتی کمیټی لوړی مرستیال .

۲۱ـ داکتر محمد موسی نورستانی .

۲۲ـ محمد نسیم جویا دسکرتر په توگه .

۲۳ـ بابه قلنیچ ترکمن .

# د پلار وطنی ملی جبهې په موسسه کنگره کې د مرکزی کمیټې د عمومی منشی د انقلابی شورا د رئیس

## او د رئیسه هیأت د صدر ببرک کارمل اختتامیه لنډه وینا :

دافغانستان دد موکراتیک جمهوریت دپلارو طنی ملـــی جبهې دمو سسې کنگر ی محترم غړو !ادر نــــــو دوستانو ، گرانو ملگرو !

پدې حساسو شیبو کې ،دهیواد دآزاد ی بنسټ نکی ملی او اجتماعی جنبش په دې دپا ملر نی وړ مقطع کـــــې دکنگرې د محترم غړ و ،گرانو میلمنو ، دافغانستا ن دخلك دد موکرا تیك گو ندد مر کز ی کمیټې له خوا د انقلابی شو را اود انقلابی شو را درئیسه هیا ت له خوا اودو زیرانو دشو را درئیس په اجازه دو زیرانو دشو را اود خان له خوا ، ستاسو دملی کمیټې او اجرا ئیه هیات

محترم مو غړو ته چې زمو ږ ګران ملګری ډاکټر صالح محمد زیری ؤ، چې د خپل ژوند بې شمیره کلونه یې د زیار ایستو نکو دآزادی په دوره کې دمبارزی له پاره وقف کړی د رتیس په تو ګه ټاکلی دی، د زړه له کو مې منتی وړاندې کوم.

د پلارو طنی ملی جبهې مؤ سسه کنګره ټینګ باور لری چې دکنګرې د رهبری هیات خپلی دند ې د جبهې د مرامې . ساز مانې او تشکیلاتی اصولو په مطابق په بنسټ پول سر ته رسوی او خپلې هڅې او هلې ځلې دافغانستان د ټولو خلکو د ملی یووا لی په لاره کې پهبې اما نه اوغوځه تو ګه تعقیبو ی .دوې ګوښښ کوی چې دثور انقلاب دسر ته رسول شویو چارو د نتیجو دساتنې اود امنیت ، سو لی او کرا ری په لاره کی به خوراهلی ځلی وکړی، همد غه راز زمو ږ دکنګری در هبری هیات به زیا ته هڅه وکړ ی چې په ټول افغا نستان کې دپلا ر وطنی ملی جبهې ساز مانو نه جوړ کاندی او په ټو لو سیمو کې دافغا نستا ن د مبارز و، زړو رو ،آزادو او خوار ی کښو خلکو ولا یتی او محلی کمیټې را ټو لی او سمبا لې کړی اود شر ف، وطن او د افغا نستا ن د خلکو دنا مو س په نا مه به له پښر څخهداشرارو د صا در شو یو یانیو تو پسر ضد خپلی بې دریغه مبا ر زی پر مخ بوز ی .

# د پلار وطنی ملی جبهی د ملی کمیټی دغړو نوموونه چی د پلار وطنی ملی جبهی

**دموسسی کنګری د استازو له خوادرایو**

**په اتفاق وټاکل شول.**

**دالفبا په‌ترتیب ا:**

احمد علی کار گر .
احمد علی کهزاد
اسد الله حبیب
انا هیتا راتب‌زاد .
بابه قلنیچ
بر ها ن‌الدین غیا ثی .
جان محمد پلار.
حاجی محمد شمکنی .
خدا یداد بشر مل.
خلقی بابا .
خلیل الله کو هستانی .
خوا جه نفس .
رحیم الله اصو لی .
زلیخا نورانی.
زینب.
سخی مر جان .
سلیمان لایق.
سید احمد جان دهقان.
سید اکرام بیګیر .
سید نسیم میهن پرست .
سعید افغانی .
سید فـالر حمن .
شیر اکرم کار گر .
شیر عبا س مسعود .
صالح محمد زیری .
صالحه اعتماد ی .
عبد الحکیم خلیق.
عبد الحمید
عبد الرحیم کار گر.

عبد الرحیم ها تف — گل غتی .
عبد الستار پرد لی . — گیج گلدی.
عبد السلام. — لطیفه .
عبد الصمد ویسا. — ما هره .
عبد الظاهر سمنگانی . — محبوبه هو تکی .
عبد الغفار لکهوال . — محرا ب‌الدین بکتیاوا ل .
عبد الغنی کارگر. — محرم علی .
عبد القا در آشنا. — محمد آصف ثبرد.
عبد القیو م بیسد. — محمد اسرا ئیل راسی .
عبد الکریم حقانی . — محمد اسلم اکرم.
عبد اللطیف نا ظمی — محمد اسلم.
عبد الله بختانی . — محمد الله وطندو ست .
عبد الهادی داوی . — محمد جمال فخری.
علی محمد زهما. — محمد حسن سپا هی.
غلام حضرت ابرا هیمی . — محمدحسین سر آ هنگ .
استاد غوث الدین . — محمد حیدر مسعود .
فتح محمد فر قه مشر . — محمد دین ژوا ك.
خور شید. — محمد رفیق صاد ق.
فهیمه الله یار . — محمد زمان مو مند.
فیض الله ذ کی — مو لوی محمد سا لم‌علمی.
فرید احمد مزدك. — محمد صدیق طرزی .
فیض الله طغیان. — محمد صدیق کاوون.
سیدکریم خان مو مند . — محمد کبیر مزاری.
گل احمد فر ید. — محمد مو سی آتش .

محمد نبی کندهاری .
محمد نسیم جو یا.
محمدنعیم شایا ن .
محمدولی زلمی .
محمد هاشم علم .
مو لوی محمد هاشم کامه‌وال
دهرات دگازر گاه دمیرزوی
میر محمد افضل.
محمدیوسف .
محمود حبیبی .

مهر چندور ما .
سید ناصر شاه کیانی .
نجم الرحمن مواج.
نجم الدین کاو یانی .
نجیبه هو تکی .
نواز علی سرود.
نور الله تالقانی .
نور اکبر.
واصف باختری.
نور محمد غمجن.

# د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت
# د پلار وطني ملي جبهې اساسنامه

سریزه:

پلار وطنه ملي جبهه دافغا نستا ن په د موکرا تیك جمهور یت کې د زیار ایستونکو دقدرت بنسټ دی دغه جبهه دټو لنیزو او سیا سي‌ساز ما نو نو او شخصیتونو پرا خه سیستم او زمو ږ دوا حد وطن ګرا ن افغا نستان او سیدو نکو خلکو ، ټو لوملیتونو ، قو مو نو،قبا یلو او بیلابیلو مذهبو نو دپیروانو دیووا لي څرګندوی ده چې دکا ر ګرانو او بز ګرانو پر یووا لي متکي ده اودخلکو دمو کرا تیکي طبقي اوقشرونه‌او ټو ل وطن پا ل ځواکو نه زمو ږ دویاړ لي هیواد افغانستا ن د تر قي ، سو کا لي او ټیکمر غي په لاره کي دیووا لي اود وروړ ګلو ی د همکار ی په غر ض یوموټی کوي.

دافغا نستا ن د خلك‌دمو کرا تیك ګو ند د افغا نستان دد مو کرا تیك‌جمهور یت له اساسي اصولو سره‌سم دپلار وطني ملي‌جبهې‌او د افغا نستا ن دټو لي ټو لني ر هبري کوو نکي‌ځواك دی.

دوطن پالو ملی خوا کو نودیووا لی مفکوره دافغانستان
دآزادی او خپلوا کی په خاطردا ستعمار او امپر یالیزم پر
ضدزمو ږ دنیکو نو اوپلرونودڅغور نده اتلوا لو مبا رزوله
دوران څخه سر چینه اخلـی‌دغه مفکوره د مشرو طـــه
غوښتنی دلو مړ ی غورځنګ‌دمشرو طه غوښتنی ددو هم
غور ځنګ دباچا امان‌الله‌په ،وسیله د متر قی اصلا حا تو
دتطبیق او د ملی شو را د اوو مې دور ی دغور ځنګـــ
په دوره کی هم څرګنده شوه‌دغه مفکوره د افغا نستا ن‌د
خلك دمو کرا تیك ګو ند په‌لو مړ ی مرام کی چی پــــه
۱۳٤٤ کال کی تصو یب شوداصولو په کا در کی په‌علمی
تو ګه تنظیم او مشخص شوه‌او له هغه نیتهی څخه تــــر
اوسه پور ی دوروستیـــــوانقلابی غور ځنګو نو د لا ر-
ښو ونی په توګه وه او دافغا نستان دخلك دمو کرا تیـــك
ګو ند دعمو می او روا نـــی‌کرنلاری یو اساسی اصل وو.
دغی تاریخی مفکور ی‌دثورانقلاب دبری په‌بر کت او په
تیره بیا د هغه دنوی پړ اوله‌پری ورروسته نوی مضمو ن
غوره‌کړ اود غه راز د هغه دتحقق ر ښتینی لرلید په عمل
کی پرا نستل شو .

دانقلاب دنو ی پړ او په اعلا میو ، وینا وو او ستـــرو
سندو نو کی له هغو څخـــه‌د ۱۳۵۸ کال دجد ی‌دشپږ می
نیتهی په اعلا میه کی ،دثو رانقلاب د دو یمی کالیز ی له
امله د افغا نستان د دمو کـــرا تیك جمهوّر یت په اسا سی
اصولو ، دافغا نستا ن‌د خلك‌دمو کرا تیك ګو ندد مر کزی
کمیتهی دپلینو مو نو دټولنیزوساز ما نو نو اود ۱۳۵۹کال

دجدی دښمن می نیتهی د ملي‌او وطن پالو خوا کو نو د
جر گی په‌سندو نو اومدار کوکی د هیواد ددم و کرا تیکو
ملی وطن پالو او تر قـــی‌غوښتو نکو خوا کونودیووالی
او و حد ت مشخصی لاری اواصول دپلارو طنی ملی‌جبهی
تر نا مه لا ندی تاکل شو ی‌دی.

**دافغا نستا ن دد موکراتیک‌جمهور یت دپلارو طنی ملـی جبهی دجوړ یدو هدف‌دادی :**

دخپلوا کی او ملی آزاد ی‌دسا تنی او درښتیا نی‌دمو ـ
کرا سی اود هیواد دټو لنیـزپرمختک اود ټینگی سو لی‌د
تا مین له پاره د رښتیا نی یووا لی او پیو ستو ن پـــه
غر ض دافغا نستا ن دهیوادپالو ارادی او پیو ستو ن ته
تحقق ور کول.

پلار وطنه‌ملی‌جبهه مؤ ظفه‌ده چی دافغا نستا ن دد مو ـ
کرا تیک جمهور یت د خلکویووا لی دملی او دموکرا تیک
انقلاب وروستنی پر ی ته ، درسیدو په خا طر ټینګ کړی
اود غه راز د افغا نستا ن دددمو کرا تیک جمهور یت د
اتبا عو دتر قی غو ښتو نکی‌او هیواد پالونکی رو حیی د
ښه‌یر او بشپړ تیا اوددو لـت‌او ټو لنی دچارو په اداره‌کی
دهغوی دپرا خه جذ بو لو په‌لوړ تیا کی مر سته‌وکړی.

ددغی جبهی په چوکا ټ‌کی‌زموږ دهیواد ټول بڅیا ن ،
نارینه او ښځی خوا ن ا وزاړه‌کار گرا ن او بز گرا ن، کسب
گر او روښانفکرا ن عالمان او رو حانیو ن، ملی سوداگر
دکوچنیو صنایعو خاو ندا ناود افغا نستا ن دد موکراتیک
جمهور یت ټول خلـــــک له‌توپیراو تمیز نه پر ته د

عاد لا نه متر قی ، نوی‌تولنی‌دجوړو لو اود انقلا بی اوقهر-
مان،آزاد او خپلـــــو ا ك‌افغا نستا ن دسمسور تیا په
خا طر دگډ کار او مبارز ی‌له‌پاره سره یو شی .

**په او سنی پړ او کی دپلاروطنی ملی جبهی‌دفعا لیـــت اساسی اړ خو نه :**

دپلاروطنی ملی جبهـــی اساسی وظیفه داده چـــی د
افغا نستان د خلك دمو کـــراتیك گو ند دعمو می کړ نلا ری
په‌پیروی دخلکو پرا خه‌پر گنی‌دد مو کرا تیك او متر قـــی
افغا نستان په جوړو لو کـــی‌دفعا ل او آگاهانه گډو ن له
پاره داسلام مبین دین او د هیواد دټو لو قو مو نواوقبیلو
او ملیتو نو ملی تاریخی ، اورو حی مخصو صو دو دو نو
او عنعناتو ته د احترا م‌له‌پاره‌را جلب‌کړی اود افغا نستان
د خلك دمو کرا تیك‌گو ند اودافغا نستان دد مو کرا تیك
جمهور یت دانقلا ب ی‌شو رااوحکو مت سیاست په زیا تـــه
اندازه تبلیغ او ښر گند کړی.

جبهه باید د ثور انقلا ب‌دهد فونو دتحقق اود هغـــه
دنوی پړ او دو ظیفو دژورتیاپه خا طر مبارزه کی دارتجا ع
او امپر یالیز م د تورو خـــواکو نو دهر ډول لمسو نو ،
لاس‌و هنو او تیر یو پـــــه‌وړاندی چی دو سلی په زور
او د درو غو او تورو نو له‌لاری هڅه کوی دافغا نستا ن
دملی او دمو کرا تیك انقلاب‌دودی او بشپړ تیا دلاری خنډ

شی او هغه شا ته‌و تمبو ی زموږ د هیواد ملی خپلوا کی
او حا کمیت اود خمکـــــــی‌تما میت اود سیمی سو له په
خطر کی وا چوی د کلکو ا وسختو گوزاروئو د دزك‌کولو
په غر ض دافغا نستا ن دپولوآزادو او میړ نیو خلکو نـــه
ما تیدو نکی ارادی او د عمل‌یووا لی ته لکه د پو لا د ی‌کلا
او نه ما تیدو نکی خوا ب په‌خیر ساز ما نوو کړ ی اوسره
یو یی کړی.

پلازوطنه ملی جبهـــــه دپولنیزو او اقتصا دی منر قی
بدلونونو په تطبیق کی چی‌په‌پو لنه کی د هیواد د ملـــی
یووا لی دټینګښت‌اود ماد ی‌او فر هنگی ژو ند دسطحی
دلوړ تیا اود خلکو دسوکالی په غر ض طر حه شـــــوی
براو به براو عملی کیږی هراړ خیز ه انسانی مر ستـــه
کوی.

پلازوطنه ملی جبهه دخپلوپولو غړ یو دګډ فعا لیــــت
په‌و سیله دپو لنیز عدا لت اود هیواد دټو لو خلکو د
حقوقو دبرا بری د اصل لـــه‌مخی د دو لت دسیا ستملاتړ
او تنګه کوی او پدی غر ضــ‌په پولو و سایلو او امکا ناتو
سره په لا ندی بر خو کی هراړ خیزه همکاری کوی :
ـ امنیت او آرامی.
ـ ملی اقتصاد .
ـ طبی خد متونه او ، دروغتیا ساتنه.

ـ پرګنیزه ښوو نـــه اوروز نه .
ـ لوړ ی او مسلکـــــــی ښوو نی .
ـ علم ، تکنولو ژ ی او هنر.

پلارو طنه ملی جبهه مکلفه ده چی د هیواد دفا عی ورتیا ټینګه کړ ی اود افغا نستا ن د دمو کرا تیك جمهور یت د آزا دی غو ښتو نکی و سله وا ل پو ځ جنګی قدر ت او آګاهانه او ټینګ انضبا طچی د ملی حاکمیت د ځمکـــــی تما میت د ثور د ملی او دمـو کرا تیك انقلاب د ارزښتو نو وطن پالو نکی اود داډ و ړ مدا فع رول لوبوی زیا ت کړی.

پرا خه پلار و طنه ملی جبهه داسلام مبین دین تـــه کلکه پا ملر نه او احترام کوی اود افغا نستا ن دټو لو خلکو له خوا دد ینی او مذ هبـی مراسمو له څنډ نه پر ته ا و آزاد ی د اجرا په خا طر هراړ خیزه او کلکه مر ستـــه کوی.

پلاروطنه ملی جبهه دسولی ګډ سوله ییز ژو ند دبین المللی کړ کیچو نو دلری کولو او د ګاو نډ یو هیوادو دپیچلو او ناحل شو یو مسالو دسیاسی حل اود هغوی ترمنځ ددوستی او همکار ی دپیاوړ تیا په برخه کی دافغا نستا ن د خلـــك دمو کرا تیك ګوند او د افغـانستا ن دد مو کرا تیـــــك جمهور ی حکو مت دبهر نۍ سیاست دکړ نلار ی غوښتلاتې

کـوی او د دغی کـړ نـلا ی‌دتـامین په لاره کـی فعا لیت کوی.

پلاروطنه ملی جبهه ز موږدپښتنو خلکو اود نـــــړ ی دمبارزو خلکوتر منځ ددوستی‌دسیاست چی دسو لی ، ملی او ټو لنزی تـر قی او آزادی‌په خاطر مبارزه کـوی پلـوی او ملاتړ کوی.

پلار وطنه ملی جبهه خپلـــــه‌دوطن پا لنی و ظیفه بو لی‌چی زموږ خلك له هغو ارزښتو نواو تاریخی بریا ل یتوبونو ، سره چی دافغا نستا ن دوستوهیوادو او په لو مړی خـــل دافغا نستان دز یار کښوخلکودتاریخی او ملی دو ستےزموږ دستر گاو نړ ی هیوادشورویاتحاد اود نړی دنو روسو - سیالیستی او متر قی همکاروهیوادو په‌برخه شویدی‌بلد ، کړی او د افغا نستـــان او شورویدخلکو تر منځ ددوستی‌او همکار ی ارزښت نا کی‌زیرمی‌چی دځو لسیز و په او ږ دو کی را ټولی شویدی وساتی‌اوپرا ختیا او وده ور کړی .

پلاروطنه ملی جبهه به د نو رو هیوادو لهور ته‌ټولنیزو او سیا سی ساز مانو نوسره نژدی اړیکی او همکاری پـــــه متقابله تو گه ټینگی کړ ی اوپر مختیابه ور کړی.

## ۲ـ په پلار وطنه ملی‌جبهه‌کی غړیتوب:

په‌پلاروطنه ملی جبهه کـی‌غړی تو ب په خپله خو ښـه دی.

غړی ځوب په ډله ییزه یـاڅانګړی تو ګه کیدای شی .
دافغا نستا ن دد موکراتیك‌جمهور یت دپلارو طنی ملی
جبهی مو سس ډله ییز غړ ی‌دادی :
دافغا نستان دخلك دمو کراتیك ګو ند.
دافغا نستان صنفــــــــی‌اتحاد یی .
دافغا نستان دد موکرا تیك‌جمهور یت دکر نی دکوپرا ـ
تیفو نو اتحاد یه .
ـدافغا نستان دځوا نانودمو کرا تیك سازما ن .
دافغا نستان دښځو دمو کرا تیك ساز مان.
ـ د افغا نستان د دمو کراتیك جمهور یت‌دلیکوا لو او
شا عرانو اتحاد یه .
ـ د افغا نستان د دمــــو کرا تیك جمهور یت دژور ـ
نالستا نو اتحاد یه .
دافغا نستان دد موکراتیك‌جمهور یت د هنر مندا نـــو
اتحاد یه.
ـ د افغا نستان د سو لـی‌یو ستو ن او دو ستـــــی
ساز ما ن.
ـ د افغا نستان د دمــــو کرا تیك جمهور یت‌اقتصادی
مشور تی شو را.
ـ دافغا نستان دعا لمانواوروحا نیو نو شو را.
ـ دقبا یلو داستاز یوعا لی‌جرګه.

پلارو طنه ملي جبهه دټولوټولنیزو سماز ما نو نو له پاره چې دثور د ملي او دموکراتیک انقلاب داصولو پیروي کوي داساسنا مې موازین منې ملاتړیې کوي او عملي کوي یې اود افغانستان دد موکراتیک جمهوریت په پلاروطنه ملي جبهه کې د غړي توب د داوطلب کیدو مراتب دجبهې د ملي کمیټې په نامه دلیکلي غوښتنلیک په وسیله وړاندې کوي خلاص دي .

په جبهه کې دله یېز منل دپلاروطنې ملي جبهې د ملي کمیټې په واسطه له تصمیم ، وروسته سر ته رسیږي.

دافغانستان دد موکراتیک جمهوریت هر تبعه چې دجبهې دهدفونو ملاتړوکړي او دهغې په فعالیت کې دعملي ګډون له پاره تیاري ولري دپلاروطنې ملي جبهې انفرادي غړي کیدای شي . انفرادي داوطلبان دشفاهي ، ثبت شوي او لیکلي غوښتنې له مخې چې دمربوطولایت دجبهې هغې سیمه ییزي کمیټې ته وړاندې شوي وي چې دی یکې اوسیږي هم په غړي توب منل کیدلای شي .

دپلاروطنې ملي جبهې غړي حق لري په ټولو هغو اقداماتو او تدبیرو نو کې چې دجبهې په واسطه دثور د ملي اودموکراتیک انقلاب دتطبیق د ژر ستي په غرض کیږي ، ګډون وکړي ، دجبهې اود هغې د کمیټو دفعالیتو نو

په مر بوطو مسا لو باندی غوراو خبری‌وکړ ی او داســــی پیشنهها دو نه و کړی چی دهغی د فعالیتو نو په‌بنه‌وا لی کی مر سته وکړی.

دپلاروطنی ملی جبهـــــی‌مادی عایدا ت له ټولو هغـو پیسو څخه چی د ډله ییـــزواوانفراد ی غړ یو او همد غه شـــان د افغا نستانډ دمـــوکراتیك جمهور یت داتبا عو اود هغو دبیلو بیلواتحاد یودبسپنو په‌و سیله ور کـــــول کیږی تا مینیږی.

**۳ـ دپلار وطنی ملی جبهی‌تشکیلاتی جوړ ښت او رهبری کو نکی مقا مات :**

دجبهی تشکیلا تی اساس دهغی ولا یتی ساز ما نو نه دی.

دپلاروطنی ملی جبهی ډیرلوړ مقام دجبهی عمو می‌کنگره ده چی لږ ترلږه په پنځـــوکلونو کی یو ځل یلنه ورکول کیږی دکنگری د جوړ یدو نیټه‌دجبهی د ملی کمیتی دپریکړی له مخی ټاکل کیږی .

کنگره دجبهی فعا لیت دکل په‌تو گه اود هغی د ملی جرگه کی فعا لیت تر غور اوڅیړ نی لاندی نیسی ،دجبهی وظیفی او دکـــــار عمومـــی اړخو نه ټاکی . دپلار و طنی ملی جبهی په اساسنا مه کی‌لازم تعدیلا ت او بدلو نو نـــه راو لی او دهغـــی رهبری کوونکی ارگا ن یعنی دجبهی ملی

جر گه گی چی دجبهی فعالیت‌ددوو کنگرو تر منځ وا ټـن
کی‌ر هبری کوی تا کی.

دنمایند گیو اود استا زودرا لیږ لو دلارو چارو په باب
معیار او مقـر رات د جبهـــی‌دملی جر گه گی له خواټاکل
کیږی .

ملی جر گه گی دخپل رئیس‌اومرستیالا نو دغږ یو له‌جملی
څخه او همد غه شان هغــه‌اجرا ئیه جر گه گی چی‌دخپل
کار په‌باب‌ملی جرگه گی ته رپوت را کوی تا کـی ، دملی
جرگه گی رئیس اود هغـــــی‌مرستیالا ن د خپلی‌و ظیفی‌له
مخی په اجرا ئیه جر گه گی شا مل دی.


دپلارو طنی ملی جبهـــــی‌ولایتی جر گه گی داجرا ئیه
جر گه‌گی له خوا جوړیږی اواجرا ئیه‌جر گه گی د هغـــی
جر گه گی واك اود فعا لیــت‌اړ خو نه هم ټاکی .

پلاروطنه مل ی‌جبهه څا نته‌نشراتی ارگان لری.

دپلار وطنی ملی جبهـــی جر گه گی اود هغی ولا یتی
جر گه گی دشخصیت لـــــه‌حقو قی وا کونو څخه گټهــــه
اخلی .



وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ



























































بیهقی







**نشرات پرچم:**
http://rahparcham۱.org